# د اسلام دریم خلیفه،

## جلیل القدر صحابي،

## عثمان ابن عفان رضي الله عنه

# مبارک سیرت

د خپرولو شمیره: .......... (۳)

Ketabton.com

لیکوال : حبل الله ( المتین)

کال : ۱۳۹۸ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


**نوم :** ------------- د عثمان ابن عفان (رضي الله عنه) سیرت.

**لیکوال او راټولوونکی:** ----- حبل الله (المتین).

**ژباړن :** ------------- خپله لیکوال.

**ټایپ :** ------------- حبل الله (المتین)

**ډیزاین او PDF :** --------- N. RASOOLI

**کال:** -------------- ۱۳۹۸ هجري لمریز

**د خپرولو شمیره:** --------- (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

**عنوان:** ................................ **صفحه**
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت اوله برخه: ................ (۱)
د نسب شجره یې: ................ (۱)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت دویمه برخه: ................ (۲)
عثمان (رضي الله عنه) ته ذین النورین ولې وایې: ................ (۲)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت دریمه برخه: ................ (۴)
د عثمان (رضي الله عنه) حبشې ته دویم ځل هجرت: ................ (۴)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت څلورمه برخه: ................ (۷)
د رقیه (رضي الله عنها سره نکاح: ................ (۷)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت پنځمه برخه: ................ (۹)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت شپږمه برخه: ................ (۱۱)
د عثمان (رضي الله عنه) د میرمنې رقیه بي بي وفات: ................ (۱۱)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت اوومه برخه: ................ (۱۲)
د تبوک غزا ته د مجاهدینو تیارول: ................ (۱۲)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت اتمه برخه: ................ (۱۵)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت نهمه برخه: ................ (۱۹)
د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) خلافت، باران نه کیدل او د عثمان (رض) صدقات................ (۱۹)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت لسمه برخه: ................ (۲۱)
د عثمان (رضي الله عنه) کوهی: ................ (۲۱)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت یولسمه برخه: ................ (۲۳)
د عثمان (رضي الله عنه) فضایل: ................ (۲۳)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت دولسمه برخه: ................ (۲۵)
د حدیبې صلحه: ................ (۲۵)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت دیارلسمه برخه: ................ (۲۷)
د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوب لیدل: ................ (۲۷)
د صلحې د شرایطو متن لیک: ................ (۲۸)
معاهدې شرطونه: ................ (۲۸)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت څوارلسمه برخه: ................ (۲۹)
مکه مکرمه کې د عثمان (رضي الله عنه) ملاقاتونه: ................ (۲۹)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت پنځلسمه برخه: ................ (۳۲)
د عثمان (رضي الله عنه) سخاوت: ................ (۳۲)
د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت شپاړسمه برخه: ................ (۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عثمان (رضي الله عنه ) باندې د جنت زیری: ............ (۳۳ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت اوولسمه برخه: ............ (۳۴ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت اتلسمه برخه: ............ (۳۶ )
په اخیستو او خرڅولو کې اسانتیاوې: ............ (۳۶ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت نورلسمه برخه: ............ (۳۷ )
د دین فکر او کرامات: ............ (۳۷ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت شلمه برخه: ............ (۳۹ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د شهادت اسباب او د جنت زیری ............ (۳۹ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د شهادت یوویشتمه برخه: ............ (۴۱ )
عبد الله ابن سبا څوک وو ؟ ............ (۴۱ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت دوویشتمه برخه: ............ (۴۳ )
د عثمان (رضي الله عنه ) خوارجو باغیانو او دوکه شویو مسلمانانو ته خبرداری ............ (۴۳ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت درویشتمه برخه: ............ (۴۵ )
د محاصرې جاري والی او د صحابه کرامو رضي الله عنهم رایې ............ (۴۵ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د سیرت څلورویشتمه برخه: ............ (۴۶ )
عثمان (رضي الله عنه ) ولې له خلافته استعفا نه ورکوله؟ ............ (۴۶ )
د عثمان (رضي الله عنه ) شهادت: ............ (۴۶ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د شهادت پنځویشتمه برخه: ............ (۴۷ )
د عثمان (رضي الله عنه ) د خلافت دوران کې د مختلفو ملکونو فتحه کیدل: ............ (۴۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضي الله عنه[1] د سیرت (۱) برخه

**نوم: عثمان.**

القاب: ابو عبدالله، ذالنورین او کثیر الحیا.

عثمان غني رضي الله عنه د پلار نوم عفان ابي القاص الاموي القریشي.

**د مور نوم یې: اروي بنت کریز.**

د زیږېدلو ځای مختلف ښودل شوي، مکه یا طایف.

د زیږیدلو نیټه یې **۵۷۲** میلادي د عام الفیل نه شپږ کاله وروسته یعنې چې ابرهه په مکه مکرمه د حملې اراده کړې وه شپږ کاله وروسته.

**ورونه یې له مور لخوا:**

ولید بن عقبه، خالد بن عقبه، عمر بن عقبه، یوازې د مور نه خور آم کلثوم بنت عقبه، خپله خور آمنه بنت عفان.

**د عثمان رضي الله عنه بیبیانې:**

آم عمر بنت جندب، فاطمه بنت الولید، رقیه بنت النبي صلی الله علیه وسلم آم، کلثوم بنت النبي صلی الله علیه وسلم، فاخته بنت غزوان، آم بنین بنت عیینه، رمله بنت شیبه او نائله بنت الراشه.

**د عثمان رضي الله عنه اولادونه:**

عمرو (رضي الله عنه)، خالد (رضي الله عنه)، ابان (رضي الله عنه)، عمر (رضي الله عنه)، مریم، ولید (رضي الله عنه)، سعید (رضي الله عنه)، آم سعید (رضی الله عنها) عبدالله (رضي الله عنه)، عبدالله الصغیر (رضي الله عنه)، عبد المالک (رضي الله عنه)، عائشه (رضی الله عنها)، آم ابان (رضی الله عنها)، آم عمر (رضی الله عنها)، آم خالد (رضی الله عنها) ام ریان، آم ابان الصغری (رضی الله عنها) او اروي (رضي الله عنه).

- عثمان رضي الله عنه له ماشوموالي ډیر مهربانه او سخي انسان وو، تجارت سره یې ډیره مینه وه، همېشه به مختلفو ملکونو ته د تجارت لپاره تللو، دومره حیاناک وو، چې کافرانو به د بیت الله شریف طواف په لغړه کولو، خو عثمان رضي الله عنه به سترګې ښکته نیولی وې چاته به یې نه کتل او نه به یې خپل عورت ښکاره کولو تر دې چې خپل لباس به یې هم د چا په وړاندې نه بدلولو.
- شرابو نه یې کرکه کوله، د خپل عقل په برکت یې خپل قوم کې اوچت مقام حاصل کړی وو، سخاوت یې د جهالت دور کې هم مشهور وو، هر مسکین، فقیر، یتیم او کونډې سره به یې ممکن کومک کولو.
- د عمر (۳۴) کال یې وو چې د شام سفر باندې لاړوو، عثمان رضي الله عنه خپله فرمایي، چې موږ د شام نه بیرته راروان شو، چې د آلزرقامقام ته راورسیدو نو قافله مو واړوله چې ارام وکړو، موږ لا اوده شوي نه وو، خو نیم خوبه حالت کې وو چې غیبي اواز مو واوریدو، چې پورته شئ تاسې لا تر

[1] - رواه مسلم شریف، والترمزي و ابن ماجه فی باب حکایة الصحابه (رض)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه غفلت کې یې او مکه کې نبي علیه سلام مبعوث شوی، عثمان رضي الله عنه، فرمايي ټولو اواز واوریدو خو اواز کوونکی معلوم نه شو.

☚ نو موږ بيرته قافله بار کړه او راروان شو، چې کله مکې ته داخل شو نو تر ټولو اول ابوبکر صديق (رضي الله عنه) مخې ته راغې، ابوبکر صديق (رضي الله عنه) راته وويل چې عثمانه زه تا سې پسې ګرځیدم چېرته ورک وې؟

نو ما ورته وویل: زه خو د شام په سفر تللی وم، تجارتي قافله مې اوس راورسيده، ولې خير شه؟ زما سره دې کوم کار وو؟ نو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) راته وویل ولې ته نه یې خبر چې څه پېښ شوي؟ عثمان رضي الله عنه فرمايي ما ورته وویل خلکو لاره کې خبر کړم، نو ابوبکر صديق رض رضي الله عنه الله عنه راته وویل نو بیا ستا څه رايه ده ته خو عقلمند انسان یې تا ته دې کار کې سستي نده پکار.

که ستا د محمد (صلی الله علیه وسلم) په باره کې کوم بل نظر وي ما خبر کړه، عثمان (رضي الله عنه) وايي ما ورته وویل: زه نه پوهېږم خو تر محمد (صلی الله علیه وسلم) غوره او صادق انسان خو موږ کې بل نشته.

نو دې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په همدې لاره تیریدلو، چې موږ یې ولیدلو تشریف یې راوړو او ویې ویل: عثمانه د خير په کار کې سستي مه کوه او زه یو ازې عربو ته نه بلکې ټولې نړۍ ته پیغمبر راستول شوی یم.

☚ عثمان (رضي الله عنه) فرمايي: نور صبر را څخه و نه شو او (لا اله الاالله محمد رسول الله) کلمه مې وویله.

عثمان (رضي الله عنه) وايي: بیا مې دواړ ته د شام د الزرقا مقام اواز په باره کې وویل، چې موږ دا سې لوړ اواز واوریدو، چې ټول یې رابیدار کړو خو اواز کوونکی مو و نه لیدو، چې په دې خبره باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صديق (رضي الله عنه) دواړه بیخي زيات خوشحاله شول.

☚ عثمان رضی الله عنه فرمايي، چې کله زه کور ته لاړم، نو تره یا کاکا مې ابي الحکم خبر شو، چې تا اسلام قبول کړی؛ هغه غاړه کې رسۍ یا پړی راته واچولو او ټول بدن یې راته کلک وتړلو، بیا یې راته وویل: تر څو چې دې دغه د یتیم دین نوي پرېنخودې نه دې پرېږدم، عثمان (رضي الله عنه) فرمايي: چې ما ورته وویل: قسم په هغه ذات چې ماته یې هدایت نصیب کړی، چې غوښې مې ټوټه، ټوټه پرې کړې که مې د دې دین نه راوګرزوې.

☚ نو عثمان (رضي الله عنه) فرمايي: چې کله مې تره ابو الحکم پوی شو چې اراده مې کلکه ده نو بیرته یې خوشې کړم، نو سمد ستي دار ارقم ته راغلم چې دې وخت کې فقط ابوبکر صديق (رضي الله عنه)، علي (رضي الله عنه)، زيد بن حارث (رضي الله عنه) او خدیجه رضی الله عنها مسلمانان شوي وو، چې نارینه وو کې څلورم زه وم.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان ذین النورین (رضي الله عنه) د سیرت (۲) برخه:

➤ د انس ابن مالک (رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، چې زه به د هغه چا نه څنګه حیا نه کوم چې ملایکې ترینه حیا کوي؟

**عثمان رضی الله ته ذی النورین ولې وایې؟**

دا ځکه، عثمان رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه لورګانې په نکاح کې اخیستې وې، اول یې رقیه (رضي الله عنه) بیا چې کله هغه وفات شوه نو ام کلثوم (رضي الله عنه) یې ورته په نکاح کړه، تفصیل به یې په خپل وخت ذکر شي.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته معلومه شوه، چې د عثمان (رضي الله عنه) تره ابو الحکم هغه ترلی وه او همدغه وخت نه بعد کافرانو یاسر (رضي الله عنه) او آم یاسر (رضي الله عنه) مور او زوی شهیدان کړل نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل صحابه راغونډ کړل او ورته یې وفرمایل که تاسو هجرت کولای شئ؟ نو تاسې حبشې ته هجرت وکړئ زما خو تره ابوطالب شته هغه زما دفاع کوي خو تاسو ته خطر دی.

تاسو خو یاسر (رضي الله عنه) او دهغه مور ولیدل، چې کافرانو شهیدان کړل، نو تاسې حبشې ته لاړ شئ هلته یو عادل بادشاه دی، چې اصمحه نومیږي هلته څوک په چا ظلم نه شي کولای، تاسو هلته اوسئ ترڅو چې دغه دین مظبوط شي او ملګري مو زیات شي بیا به راشئ، نو (۱۵) یا (۱۶) تنان هجرت کولو ته تیار شول، چې د دوی په سر کې عثمان (رضي الله عنه) وو، او دغه په اسلام کې اولنی هجرت وو چې دغه کسانو ته په برخه شو.

(۱) عثمان ابن عفان (رضي الله عنه)

(۲) رقیه (رضی الله عنها) بنت محمد (صلی الله علیه وسلم) د عثمان (رضي الله عنه) بي بي.

(۳) ابو حذیفه ابن عقبه (رضي الله عنه).

(۴) سهلة بنت سهل (رضی الله عنها) د ابو حذیفه بي بي.

(۵) بیر ابن عوام (رضي الله عنه).

(۶) مصعب ابن عمیر (رضي الله عنه).

(۷) عبد الرحمن ابن عوف (رضي الله عنه).

(۸) ابو سلمه بن عبد الاسد (رضي الله عنه).

(۹) ام سلمه (رضی الله عنها) بنت ابی امیة د ابي سلمه بي بي.

(۱۰) عثمان ابن مظعون (رضي الله عنه).

(۱۱) عامر ابن ربیعة (رضي الله عنه).

(۱۲) لیلا بنت ابي خصمة (رضی الله عنها) د عامر ابن ربیعة بي بي.

(۱۳) ابو سبره بن ادهم (رضي الله عنه).

(۱۴) حاطب بن عمرو (رضي الله عنه).

(۱۵) سهیل (رضي الله عنه).

(۱۶) عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه).

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دغې مهاجرینو مشر عثمان ابن مظعون رضي الله عنه وټاکلو، دوی چې کله له کورنو څخه ووتل او نیل دریاب ته ورسیدل د مکې مشرکین خبر شول نو سمدستي یې تکړه په آسونو سواره کسان ورپسې واستول؛ خو هغوی چې څنګه هلته رسیدلي وو دوه کشتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته موجود وې هغه کشتۍ عثمان (رضي الله عنه) په کرایه واخیستې هره یوه یې په یو دینار او دغه (۱۵) تنان مهاجرین پکې سپاره شول، کله چې کشتۍ د نیل دریاب منځ ته ورسیده د مشرکینو کسان د نیل دریاب غاړې ته ورسیدل؛ خو هغوی ته نورې کشتۍ په لاس ورنغلې چې په کې سواره شي نو بیرته ستانه شول.

او دغه مهاجرین الله (ج) سلامت حبشې ته ورسول، هلته یې د اصحمة بادشاه سره ارام او سیدل پیل کړل؛ خو په همدې وخت کې یو بل ظالم بادشاه په حبشه حمله وکړه غوښتل یې دغه بادشاه مړ کړي، نو دوی د دریاب پورې غاړه د حبشې د بادشاه د فوځ سره سخت مقاومت وکړ.

ام سلمه (رضی الله عنها ) فرمایې: په دې وخت کې په موږ سخته پریشاني راغله چې الله ج دې نکړي که دغه عادل بادشاه مړ شي نو زموږ به څه حال کیږي او په بې صبرئ سره مو انتظار کولو اخر کې مو فیصله وکړه، چې زموږ یو تن باید هلته ورشي که جنګ دوامدار شو کومک به ورسره وکړي او که د حبشې بادشاه کامیاب شو نو موږ ته به زر خبر راورسوئ، نو؛ موږ ټولو به دعاګانې کولې چې الله ج دغه عادل بادشاه کامیاب کړي نو زبیر ابن عوام (رضی الله عنه) لامبو یاده وه او تکړه هم وو، هغه ته مو ژۍ یا د پسه پوستکی ډک کړ او له سینده پرې پورې تلو، دې وخت کې د اصحمه بادشاه لښکر کامیاب شو او هغه بل ظالم یې ووژلو او فوځ یې وتښتېدو، نو زبیر ابن عوام (رضي الله عنه) بیرته په بیړه دې خوا ته راپورې وتلو او موږ ته یې خپل څادر باندې اشارې شروع کړې چې موږ پوی شو چې بادشاه اصحمه کامیاب شوی نو دومره خوشحاله شو چې حد یې نشته، د همدې کال شوال میاشت کې اوازه خپره شوه چې د مکې مشرکینو اسلام قبول کړی، ام سلمه (رضي الله عنه) فرمایې موږ بیرته راستانه شوو، چې خپلو خلکو پسې ډیر خپه وو خو کله چې مکې مکرمې ته رانژدې شو نو معلومه شوه چې هغه اوازه دروا غ وه، بعضې مهاجر بیرته حبشې ته لاړل او بعظې مکې مکرمې ته داخل شول.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت (۳) برخه:

### دوهم وار د حبشې هجرت[2]

➤ په روایتونو کې ذکر شوي کله چې د حبشې نه اولنې مهاجرین بیرته راوګرزېدل او مکې مکرمې ته نژدې شول نو معلومه شوه چې د مکې د مشرکینو د اسلام راوړلو خبره دروا غ وه بعضې بیرته لاړل او بعضي پټ د چا خوا ته لاړل او امن یې وغوښتو؛ خو د مشرکینو ظلمونه هماغسې جاري وو.

➤ ام سلمه (رضی الله عنها ) فرمایې، چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د حبشې د امن او عدل ذکر وکړو او ورته ومې ویل چې هلته موږ ته د خپل عبادت مکملہ ازادي وه، هغوی په موږ هېڅ پابندي نه وه لګولې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا صحابه کرامو ته د هجرت امر وکړ، نو دا ځل (۸۳) نارینه او (۱۸ یا ۱۹) ښځې هجرت ته تیار شول؛ خو دومره لوی تعداد مهاجرینو پټ تلل هم له ستونزو خالي نه وو ځکه اول ځل هجرت باندې مشرکین رابیدار شوي وو، بلهدا چې په دې دویم

---

[2] - البدایه والنهایه او مسلم شریف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـل هجـرت کـې هـم عثمـان (رضـي الله عنـه) او د رسـول الله (صـلى الله عليـه وسـلم) لـور او د عثمـان (رضـي الله عنـه) بـي بـي هـم وه او رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم سـره ډېـر زيـات فکـر وو، چـې دوی څنګـه هلتـه پخيـر سـره سـلامت ورسـيږي نـو د تيـر هجـرت پشـان يـې ورتـه د شـپې پروګـرام برابـر کـړو او دغـه مهـاجرين ووتـل کلـه چـې سـحر شـو مکـه مکرمـه کـې اوازه شـوه، چـې زيـات تعـداد مسـلمانانو بيـا هجـرت کـړی نـو ټـول مشـرکين سـره راټـول شـول چـې څنګـه چـل وکـړي ځکـه اولنـي ځـل بانـدې چـې يـې ځوانـان ورپسـې ليـږل وو هغـوی تـري لـه دريابـه پوريـوتي وو نـو دا ځـل بـه هـم دا کـار ناکـام وي اخـر يـې فيصـله وکـړه چـې مـوږ بايـد نجاشـي تـه تحفـې ور ولېـږو او د هغـوی شـيطاني ورتـه وکـړو او عيبونـه يـې ورتـه بيـان کـړو، چـې مـوږ تـه يـې پـه لاس راکـړي او بيـا مـوږ ورسـره هغـه څـه وکـړو چـې زمـوږ زړه يـې غـواړي، نـو؛ تحفـې يـې راغونـډې کـړې او عمـرو ابن العـاص (رضـي الله عنـه) چـې لا تـر اوسـه مسـلمان شـوی نـه وه، او عبـد الله بـن ربيعه ته يې ورکړې او حبشې ته يې ولېږل، مهاجرين هم په خيريت هلته رسيدلي وو.

عمـرو ابن العـاص چـې هوښـيار او زيريـک وه د شـپې يـې د نجاشـي درباريـانو سـره ملاقاتونـه وکـړل تحفـې يـې ورکـړې او هغـوی يـې راضـي کـړل چـې تاسـو بـه صـبا تـه زمـوږ د خبـرو تصـديق کـوئ او نجاشـي بادشـاه بـه دې تـه راضـي کـوئ، چـې دغـه مهـاجر مـوږ تـه واپـس راکـړي، صـبا تـه چـې کلـه عمـرو ابن العـاص او عبـد الله ابـن ربيعـة دربـار تـه د تللـو اجـازت واخيسـتو نـو اول يـې سـجدې ولـږولـې بيـا نجاشـي بادشـاه تـه مخامخ ودريدل او خپلې د مکر او فريب نه ډکې خبرې يې پيل کړې او ويې ويل:

☜ بادشـاه عـالي جنـاب دغـه تاتـه راغلـي خلـک ټـول بـد کاره، بـد اخلاقـه، کـم عقلـه او د خپلـو مشـرانو نافرمانه خلک دي دوی به دلته هم فساد خپور کړي.

☜ زياتـه يـې کـړه دغـه خلکـو خپـل د پـلار نيکـه ديـن پريښـې نـوی ديـن يـې پيـدا کـړی، دوی نـه سـتا پـه ديـن دي او نه زموږ په دين نو ځکه ته د دوی له شره ځان خلاص کړه او موږ ته يې وسپاره.

او د دوی دغـه خبـرې درباريـانو هـم پـه مـد وشـد ورسـره تکرار ولـې، چـې هـو بادشـاه صـاحب د دوی نـه مـوږ تـه خطـره ده او درباريـانو هغـه تحفـې چـې د بادشـاه لپـاره وې هـم پـيش کـړې، خـو نجاشـي بادشـاه يـو عـادل انسـان وو امـر يـې وکـړو چـې د دې مهـاجرو لـه ډلـې يـو مشـر يـې راولـئ چـې د هغـوی خبـرې هـم واورم؛ نـو کلـه چـې مهـاجرو تـه خبـر ورسـيد، چـې د مکـې مشـرکينو ورپسـې خلـک رالېږلـي او بادشـاه تـه يـې شـکايت کـړی نـو پـه خپلـو کـې يـې مشـوره وکـړه چـې بايـد جعفـر ابـن ابـي طالـب (رضـي الله عنـه) چـې د رسـول الله (صـلى الله عليـه وسـلم) د تـره زوی دی او ښـه فصـيحه ژبـه لـري ورولېـږي تـر څـو د مهـاجرينو نـه دفاع وکړي.

نو کله چې جعفر (رضي الله عنه) د نجاشي دربار ته داخل شو نو،

➔ د اسـلام تحفـه يعنـې سـلام علـى عبـد الله الصـالح يـې وويـل او بادشـاه تـه مخـامخ شـو، نـو دغـه اول فرصـت وو چـې عمـرو ابن العـاص تـه پـه لاس ورغـې بادشـاه تـه يـې وويـل ګـوره مـا درتـه نـه وو ويلـي، چـې بې ادبه دي؟

➔ ده تا ته سجده ونکړه چې دا ستا لپاره بې عزتي ده.

➔ بادشاه له جعفر (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه سجده دې ولې و نه لګوله؟

➔ جعفر (رضي الله عنه) ورته وويل موږ ته اسلام غير د الله جل جلا له نه د سجدې اجازت نه راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



← بیا نجاشي ورته وویل، چې تاسې ولې د پلار نیکه دین پرېښود؟

← **جعفر** (رضي الله عنه) ورته وویل، موږ به خپلې لورګانې ژوندۍ ښخولې، یو بل به مو په ناحقه وژل، زنا به مو کوله، دشمنیانې به سلګونه کلونه روانې وې، مالدار به غریب وژل، خو چا به ترینه پوښتنه نه کوله موږ به په خپل لاس بتان جوړ کړل بیا به مو ورته سجدې کولې، دبیت الله نه به مو په لغړه طوافونه کول، د حیا په نوم موږ هیڅ نه پیژندل، رشوت، سود، جواري زموږ عادت وو.

بیا الله (ج) موږ ته نبي صلی الله علیه وسلم راولیږلو، چې د بهترین خاندان نه دی، موږ یې د پورته ذکر شوو بدو عملونو راوګرزولو، د یو الله (ج) عبادت مو شروع کړو هغه موږ ته د صله رحمۍ، نیکو اخلاقو، ظلم نه کولو، سود، رشوت او جواري نکولو امر کوي، دښمني نه کولو ترغیب راکوي نو نجاشي ورته وویل:

← ایا تاسو سره د هغه کتاب نه څه شته چې ماته یې واوروئ؟

← **جعفر** (رضي الله عنه) ورته وویل هو دادی.

← نو بیا **جعفر** (رضي الله عنه) د سورت مریم اولنې مبارک ایاتونه په اطمنان او ښکلي اواز تلاوت کړل، چې د نجاشي زړه ورته نرم شو، تاثیر یې وربانديې وکړ او په ژړا شو تر دې چې ږیره یې لمده شوه کله چې درباریانو د نجاشي بادشاه ژړا ولیده هغوی هم د مکر ژړاګانې شروع کړې تر هغې چې مخې ته یې کوم شیان ایښې وه هغه لامده شول.

← بیا نجاشي عمرو ابن العاص (رضي الله عنه) او عبد الله بن ربیعه ته وویل تاسو تلای شئ، قسم دی چې هیڅ کله به هم درته دغه خلک تسلیم نکړم او د هغوی هغه تحفې یې بیرته واپس کړې.

عمرو ابن العاص او عبد الله بن ربیعه بیرته راروان شول، چې لږ مزل یې وکړو عمرو ابن العاص وویل قسم دی زه یو ځل بیا صبا ورځم او دا وار د چل فریب او دروا غو کار اخلم.

عبد الله ابن ربیعه ورته وویل: ظالمه موږ خپل کوښښ وکړ او ته خو پوهیږې چې دغه مهاجرو کې زما او ستا دواړو خپلوان شته نور ترې تیر شه رازه چې لاړ شو خو عمرو ابن العاص و نه منله بیرته راستانه شول.

صبا ته بیا دربار ته حاضر شول او ویې ویل: بادشاه صاحب دا خلک ستاسو دین پسې هم بد وایې ته ترې پوښتنه وکړه بادشاه بیا جواب ورولیګلو چې یو تن راشي او خپله صفایي وړاندې کړي.

دغه خبر مسلمانان زیات تشویش کې کړل کله چې دغه بادشاه او رعیت یې عیسایان وه نو بیا یې **جعفر** (رضي الله عنه) ورولیګلو:

**جعفر** (رضي الله عنه) ته ټولو وویل: دروغ ویل فایده نلري ریښتیا خبره ورته کوه چې هر څه کېږي نصیب به مو وي، **جعفر** (رضي الله عنه) بادشاه ته حاضر شو بادشاه ترې پوښتنه وکړه، چې تاسو د عیسی علیه السلام په باره کې څه عقیده لرئ؟

← **جعفر** (رضي الله عنه) ورته وویل، چې عیسی (ع) د الله (ج) بنده او رسول دی، د مریم بي بي زوی او پوکی نه پیدا شوی دی، د الله (ج) په حکم یې مړي ژوندي کول او د الله (ج) په حکم یې مریضان روغول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



➜ نجاشي چې کلکه دا خبرې واورېدلې يو ډکې يې را وچت کړ او ويې ويل قسم په الله (ج) عيسى (ع) د دې ډکې په اندازه نه زيات او نه کم دی همدغه خبره بيخي صحيح ده.
➜ بيا نجاشي عمرو ابن العاص ته وويل که تاسو سفيران نه وای ما به تاسو قتل کړي وای، خو ځان وباسئ او بيا دلته رانشئ، دوی دواړه بيرته نا اميده راستانه شول، او مسلمانانو حبشه کې ارام ژوند پيل کړو.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان (رضي الله عنه) د سيرت مبارک (۴) برخه [3]

**د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) لور رقيه (رضي الله عنها) سره نکاح:**

د رسول (صلى الله عليه وسلم) د بعثت نه مخکې د رسول صلى الله عليه وسلم دوه ترونه ابولهب او ابو طالب رسول (صلى الله عليه وسلم) او بي بي خديجې (رضى الله عنها) ته راغلل، چې دواړه لورګانې رقيه او ام کلثوم د ابولهب ځامنو ته ورکړي، چې دې کار رسول الله صلى الله عليه وسلم او بي بي خديجه (رضى الله عنها) زيات خفه کړل، ځکه چې ابولهب يو بد اخلاقه، بد کرداره او ظالم انسان وو، او ښځه يې ام جميل هم له ده بدتره، بد زبانه، بد کرداره او بد اخلاقه وه،
خو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او بي بي خديجې (رضى الله عنها) ځکه انکار نشو کولای، چې ابو طالب ورسره وه او ابو طالب په رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زيات مهربانه وو، همده يې پالنه کړې وه.
نو ځکه يې دواړه لورګانې د ابولهب زامنو ته ورکړې، خو بي بي خديجې (رضى الله عنها) به همېشه سوالونه کول چې الله (ج) دې دا ودونه ونکړي او کوم مشکل پکې جوړ شي، کله چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مبعوث شو نو تر ټولو زيات مخالفت يې همدې ملعون تره او ښځې ام جميل کولو چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او بي بي خديجې (رضى الله عنها) کرکه نوره هم زياته شوه.
يوه ورځ رسول صلى الله عليه وسلم بيت الله شريف کې ناست وو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) هم ورسره وو، چې لعنتي ام جميل راغله او لاس ونه يې د شګو ډک کړي وه چې را ورسيده له خولې يې زګونه روان وو او ابو بکر صديق (رضي الله عنه) ته يې وويل، چېرته دی هغه د نبوت دعويدار چې خوله يې له شګو ډکه کړم او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته يې رد ږد کتل او ليدلو يې نه، بيا بيرته له بيت الله شريف ووتله نو ابو بکر صديق (رضي الله عنه) له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه پوښتنه وکړه، چې يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ام جميل خو تا ته کتل ايا ته يې نه ليدلې؟ نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل چې الله (ج) ورته په سترګو پردې واچولې دغه واقعه د صفا د غونډۍ نه وروسته وه.
او د صفا واقعه داسې وه، کله چې دغه آيات مبارک نازل شو،

---

3 - ماخوذ من کتاب الاستعاب باب حکاية الصحابه، البدايه والنهايه، وصحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحيم، وَأَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ،

ژباړه: تر ټولو لومړی خپل خپلوان وویروه او دعوت ورکړه.

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل ټول خپلوان راټول کړل د صفا غونډۍ سره، بیا یې ورته وویل، چې که زه تاسو ته ووایم چې یو خطرناک دښمن تاسو باندې حمله کوونکی دی تاسو به یې ومنئ چې زه رښتیا وایم؟

ټولو په یو اواز ورته وویل هو ته همېشه رښتینی یې تا کله هم درواغ ندي ویلي، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل نو زه تاسو د الله (ج) د عذاب نه ویروم تاسو زما نبوت ومنئ او مسلمانان شئ، دې وخت کې ابولهب لعین اوچت شو وېې ویل هلاک شې، نعوذ بالله تا موږ د دې لپاره راغوښتي یو، نو الله (ج) د تَبَّتْ يَدَا أَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ مبارک سورت نازل کړو، چې دې کې د ابولهب او د ده د ښځې بدي بیان شوې وه نو ځکه ام جمیل پورته عمل وکړو، کله چې ملعون ابولهب کور ته لاړو نو دواړو ښځې او خاوند خپلو ځامنو ته عتبه او عتیبه ته وویل، که تاسو د محمد (صلی الله علیه وسلم) لورګانو ته طلاق ورنکړ ستاسې لیدل په موږ حرام دي تاسو نه ګورئ چې محمد (صلی الله علیه وسلم) وایې چې زموږ په باره کې سورت نازل شوی.

هغوی کې عتیبه بې له کوم مشکل طلاق ورته ولېږلو خو عتبه په دې کفایت ونکړ او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کور ته راغې اول یې کنځل وکړل بیا یې طلاق ورکړ، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته خیرا وکړه چې د الله (ج) د زمریانو نه دې یو زمری دربانډې مسلط شي چې همداسې وشول او زمري ټوټه ټوټه کړو چې تفصیل به یې بیا وروسته بیان کړو.

دغه زمانه کې هم طلاق یو لوی عیب او شرم ګڼل کیدو نو ځکه بي بي رقیه (رضی الله عنها) او بي بي ام کلثوم (رضی الله عنها) دواړو ځان خپلې مور بي بي خدیجې (رضی الله عنها) غېږ ته واچوو او په ژړا شوې.

بي بي خدیجې (رضی الله عنها) ورته وویل، دا خو زما ارمان وو، چې داسې وخت راشي چې تاسو دواړه د واده نه مخکې له دې لعینانو خلاصې شۍ او ما به الله (ج) ته سوالونه کول تاسو مه خپه کېږئ، الله (ج) به تاسو ته غوره خاوندان درکړي.

نو عثمان (رضي الله عنه) چې خبر شو چې عتبه بن ابي لهب او عتیبه بن ابي لهب د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لورګانو ته طلاق ورکړی، نو له فرصت نه یې استفاده وکړه او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې د بي بي رقیه (رضی الله عنها) د واده پیغام ورولېږلو چې دې سره به یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره رشته نوره هم مضبوطه شي او د نبي اخرزمان (صلی الله علیه وسلم) لور به یې هم په نصیب شي چې دغه پیغام باندې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او بي بي خدیجه (رضی الله عنها) زیات خوشحاله شول او دواړو بي بي رقیه (رضي الله عنها) ورته په نکاح ورکړه.

د بي بي رقیه (رضی الله عنها) یې د حبشې د هجرت په وخت یو زوی عبدالله هم پیدا شو، عثمان (رضي الله عنه) د حیا یوه نمونه وه ډېر زیات حیاناک وه، سعید ابن العاص (رضي الله عنه) د عایشې صدیقې (رضي الله عنها) نه روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کور کې تشریف فرما وه، او اړخ یې لږولی وه او پښې مبارکې یې تر پنډیو ښکاره وې نو ابوبکر صدیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رضي الله عنه) راغی اجازت یې وغوښتو او راغې، خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هماغسې پروت وو بیا عمر (رضي الله عنه) اجازت وغوښتو او راغې خو رسول (صلی الله علیه وسلم) هماغسې پروت وو او پنډۍ مبارکې یې ښکاره وې بیا عثمان (رضي الله عنه) اجازت وغوښتو نو د راتلو مخکې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پورته شو او خپلې پنډۍ مبارکې یې پټې کړې.

نو ما له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله زما پلار او عمر (رضي الله عنه) راغلل ستا پنډۍ مبارکې ښکاره وې او ته پروت وې، خو چې عثمان (رضي الله عنه) راغی ته پورته شوې او پنډۍ دې هم پټې کړې، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل زه به له هغه چا ولې حیا نه کوم چې ملایکې ترینه حیا کوي او بله دا چې عثمان (رضي الله عنه) دومره حیاناک دی که زه همداسې پروت وی او پنډۍ مې ښکاره وی نو هغه چې د کوم ضرورت او کار لپاره راغلی وه هغه به ترینه پاتې وو او بیرته به لاړ وه نو ځکه زه ورته راکیناستم.

➔ یو حدیث شریف کې د عبد الله ابن قیس (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زما سره د قجورو باغ کې ناست وه او ابو لختي کې یې پښې اچولې وې او بیا بهیدلی چې دروازه وټکیده نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل، ابن قیسه ورشه یو داسې کس راغی چې جنتي دی دروازه ورته خلاصه کړه، عبد الله قیس (رضي الله عنه) فرمایي چې زه ورغلم دروازه مې خلاصه کړه نو ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) وو، هغه رادننه شو هغه هم پښې مبارکې ابو کې ښکته کړې بیا چا دروازه وټکوله بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل ورشه دروازه خلاصه کړه یو جنتي شخص راروان دی چې ما دروازه خلاصه کړه هغه عمر (رضي الله عنه) وو، هغه هم پښې مبارکې د ابو لښتي کې ښکته کړې، بیا دروازه وټکول شوه بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل ورشه یو جنتي شخص راغی دروازه ورته خلاصه کړه چې زه ورغلم نو عثمان (رضي الله عنه) وه هغه هم د ابو لښتي کې خپلې پښې مبارکې ښکته کړې، دوی ټولو ته بار بار د جنت زیری ورکول شوی وه.[*]

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان ذی النورین رضي الله عنه د سیرت (۵) برخه.

کله چې عثمان (رضي الله عنه) دوهم ځل بیا حبشې ته هجرت وکړ؛ نو هلته مسلمان مهاجرین لږ لږ نور هم روان وه او نجاشي هم اسلام راوړی وه؛ خو د خلکو له ویرې یې فقط مسلمانانو ته اظهار کړی وه.

بل خوا مکه معظمه کې د مکې یو د لویو سردارانو - ولید بن مغیره او احیحة هم اسلام راوړی وه نو کله چې مهاجرین خبر شول ډېرو پکې د بیرته راستنیدو تکل وکړ، ځکه ټولو نه ډیر محبوب خپلوان پاتې وه، چې هغې کې عثمان (رضي الله عنه) او بي بي رقیه (رضی الله عنها) هم وه.

[*] اخرجه صحیح مسلم فی باب عثمان ابن عفان رض صفحه 6363_6362 کتاب نظرات فی تاریخ خلفاء الراشدین استاذ حلمی ناصر مصر حیاة الصحابه رض باب عثمان رض.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول (33) نفرو د بیرته تللو اراده وکړه چې عثمان (رضي الله عنه) بي بي رقیه (رضی الله عنها ) او ځوی یې او زبیر ابن عوام د بي بي خدیجې (رضی الله عنها ) خوری او عبدالله ابن جحش د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د پلار لخوا نه د ترور زوی، والسکران بن عمرو (رضي الله عنه) او نور صحابه مهاجرین وه.

بي بي رقیه (رضی الله عنها ) خپلې مور بي بي خدیجې (رضی الله عنها ) پسې ډیره خپه وه ځکه چې د هغې عمر هم زیات وو بل خوا خپل پلار رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پسې هم خپه وه، چې چا ورته تکلیف نه وي رسولی.

خو حبشه یو افریقایي ملک وه او له مکې ډیره لرې پرته سیمه وه، څوک د مکې د خلکو له احواله څخه نه خبریدل، دلته مکه کې ام المومنین خدیجې (رضی الله عنها ) خپل روح الله (ج) ته سپارلی وه.

او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تره ابو طالب هم وفات شوی وه، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ډیر زیات پریشانه وه ځکه تر ټولو زیات په همدې دوه تنانو ډاډه وو دواړه تري وفات شول نو د هجرت فیصله یې وکړه او اخر یې هجرت هم وکړو؛ خو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نورې لورګانې پاتې شوې وې او ام سلمه (رضی الله عنها ) هند بنت ابي امیه چې د اول هجرت نه بعد مکه کې پاتې وه هم ورسره بي بي رقیه (رضی الله عنها ) حبشه کې مهاجره وه، خو رقیه (رضی الله عنها ) ته د مکې هېڅ احوال معلوم نه وو، نو رقیه (رضی الله عنها ) خپل خاوند عثمان (رضي الله عنه) ته وویل مور پلار مې ډیر یادیږي او زړه مې داسې ګواهي کوي چې مکه کې کومه لویه پېښه شوې ده؛ که ستا خوښه وي بیرته به لاړ شو؟

عثمان (رضي الله عنه) هم د هجرت لمبو سوزولی وو، ورته یې د تیارۍ حکم وکړ، عثمان (رضي الله عنه) رقیه (رضی الله عنها ) او خپل ماشوم عبدالله راروان کړل کله چې له ډیر مشقت او اوږد سفر نه بعد مکې ته راورسیدل نو مکه کې داسې چپه چوپتیا وه لکه چې خزان وهلې وي نو رقیه (رضی الله عنها ) تر ټولو اول د خپل پلار رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کور ته لاړه هلته یې ام کلثوم (رضی الله عنها )، فاطمه (رضي الله عنها ) او ام سلمه (رضي الله عنها ) وموندل مور یې تر سترګو نشوه.

بل خو هغوی هم د دې په ځای چې د رقیې (رض) راتلو ته یې باید د خوشحالۍ اظهار کړی وای نو د دې استقبال یې په اوښکو تویولو وکړ نو رقیه (رضي الله عنها ) پوښتنه وکړه مور مې چیرته ده؟

هغوی ټول چوپ وه بیا یې وویل زر شئ ووایی پلار مې څه شو؟ ما ته یې زر راولئ.

نور مې زړه چوي، هلئ زر شئ ووایی کله هغوی چیرته دي، نو هغوی تري غیږ چاپیرې کړې ورته یې وویل مور، مور خپل روح الله (ج) ته سپارلی او پلار جان مکه پریښې مدینې ته یې هجرت کړی او ابو طالب هم مړ شوی دی.

اخر کې ام سلمه (رضی الله عنها ) ورته د لاسه ورکړه چې ته مه خفه کیږه مور هم مدینې منورې ته ځو خو فقط د فرصت انتظار کوو.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به مور پسې زید بن حارثه (رضي الله عنه) رالیږي، بل خوا عثمان (رضي الله عنه) باندې هم د دې خبر په اوریدو مکه مکرمه سور تنور شوه، نو رقیه (رضی الله عنها ) ته یې وویل زرشه تیاری وکړه چې مدینې منورې ته لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقیه (رضي الله عنها) هم د خپل پلار رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لیدلو ته ډیره لیواله وه دواړو د خپل ځوی په شمول مدینې منورې ته هجرت وکړ او خپل حبیب (صلی الله علیه وسلم) سره یو ځای شول.

لاره ډیره اوږده وه او د مشرکینو لخوا نه ورته خطر وو خو دوی الله (ج) روغ جوړ ورسول او کوم مانع موجود نه شو.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رقې (رضی الله عنها) او عثمان (رضي الله عنه) د ورتلو نه خبر شو بیخي زیات خوشحاله شو او هغه لا پخوا زید بن حارثه (رضي الله عنه) مکې ته د ام کلثوم (رضي الله عنها) او فاطمې (رضي الله عنها) راوستو لپاره استولی وه، چې فقط څو ورځې بعد یې هغوی هم راوستل.

عثمان (رضی الله عنها) مدینه منوره کې هم خپل تجارت شروع کړ او ډیر لږ وخت کې یې وده ورکړه چې د عثمان (رضي الله عنه) د تجارت په برکت انصار او مهاجرین ټول ترې مستفید کیدل او د عثمان (رضي الله عنه) سخاوت هلته هم مشهور شو.

او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به هم ورته د تجارت کولو او د حلال تجارت کولو اجرونه بیانول.[٥]

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان (رضي الله عنه) د سیرت مبارک (۶) برخه:

**د عثمان رضي الله عنه د میرمنې بي بي رقې رضي الله عنها وفات.**

کله چې عثمان (رضي الله عنه) مدینې منورې ته تشریف یوړو نو بي بي رقیه (رضی الله عنها) خپلې مور بي بي خدیجې (رضی الله عنها) پسې د زیات خفګان له امله مریضه شوه.

دې وخت کې د بدر غزوه پېښه شوه، د بدر غزوه د اسلام تر ټولو مهمه غزوه وه چې مسلمانانو په کې بری حاصل کړ او د کفارو ټول سرکښه مشران پکې مردار شول تر (۷۰) کسانو مردار او همدومره اسیران شول، خو عثمان (رضي الله عنه) چې کله دې غزوې ته تیاری ونیوه نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې خپله ګرانه لور او د دې خراب حالت ولیدو نو عثمان (رضي الله عنه) ته یې وفرمایل ته مورږ سره مه زه ما ته د بي بي رقیه (رضی الله عنها) حالت سم نه ښکاري ته، د دې د خدمت لپاره باید پاتې شې او عثمان (رضي الله عنه) چې مکمل تیاری یې نیولی وه بیا هم د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مشوره ومنله او پاتې شو.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او نور صحابه کرام د بدر له فتحې کامیاب بیرته راستانه شول او مدینه منوره کې خلکو یو بل ته د خوشحالۍ زیري ورکول نو په همدې ورځ بي بي رقیه (رضی الله عنها) هم د ځنکدن حالت ته ورسیده، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته راغی په تندي یې ښکل کړه او هغې خپل روح الله (ج) ته وسپارلو، چې د بي بي رقیه (رضی الله عنها) مرګ ټوله مدینه منوره بیرته د خوشحالۍ نه ژړا ته بدله کړه.

---

[٥] - حلیة الاولیاء باب عثمانؓ، کتاب الاستیعاب باب خلفاء الراشدین:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان (رضي الله عنه) هم ډېر زيات خپه شو، چې هم بي بي رقيه (رضي الله عنها) وفات شوه او هم له غزوې پاتې شوی وه، د بي بي رقيه (رضي الله عنها) تر وفات لږ وخت وروسته ابوبکر صديق (رضي الله عنه) عثمان (رضي الله عنه) وليدو چې ډېر زيات خپه دی؛ نو پوښتنه يې ترې وکړه، چې ولې خپه يې عثمان (رضي الله عنه) ورته وويل دوه خبرو خپه کړی يم يو د بي بي رقيې (رضي الله عنها) مرګ او بل د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره د رشتې شکيدلو، ما په دې افتخار کولو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مې خسر دی، چې دا ماته د جنت ته د تللو يو زيری وه، خو اوس هغه رشته ختمه شوه، نو ځکه شپه او ورځ ناکراره يم؛ نو دغه خبره ابوبکر صديق (رضي الله عنه) رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ياده کړه ځکه چې د بي بي رقيې (رضي الله عنها) غوښتنه او نکاح هم د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) په واسطه تر سره شوی وه.

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د بي بي ام کلثوم د نکاح وړانديز وکړو چې په دې خبره ابوبکر صديق (رضي الله عنه) زيات خوشحاله شو.

کله چې ابوبکر (رضي الله عنه) دغه خبر عثمان (رضي الله عنه) ته ورسوو نو د ډېرې خوشحالۍ نه د عثمان (رضي الله عنه) له سترګو مبارکو اوښکې توی شوې ځکه چې د عثمان (رضي الله عنه) په خاطر کې دا خبره بيخي نه وه، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به ورته دوهمه لور هم په نکاح کړي.

په همدې طريقه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته کلثوم هم په نکاح کړه او عثمان (رضي الله عنه) ته بيا په يو وخت دوه خوشحالۍ په نصيب شوې، يوه د واده بله د رسوالله صلى الله عليه وسلم د رشتې.

چې د دې بختورو ودونو تفصيل به د بيبيانو په مستقل نشراتو کې راشي، چې هغې کې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم (۴) لورګانو او ټولو امهات المومنينو ودونو بيان راشي.•

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۷) برخه:

### د تبوک يا جيش العسرۀ غزا ته مجاهدينو تيارول:

له يوې خوا دا آيات مبارکه نازل شو،

أنْفِرُوْا خِفَافاًوَّثِقَالاً وجَاهِدُوا بِأَ مْوَالِكُمْ وَإِنْفُسِكُمْ ...

ژباړه: سپک او درانه جهاد ته لاړ شئ يعنې که اسلحه درسره وي که نه، په مال او ځان جهاد وکړئ.

بل خوا د روم کافرانو چې کله د مسلمانانو فتحې وليدې نو وار خطا شول چې يوه ورځ به مسلمانان مونږ پسې دلته هم راشي نو فيصله يې وکړه چې مسلمانانو پسې راشي او خپل ځای کې يې ختم کړي او د دې کار لپاره يې بيخي زيات لښکر تيار کړ چې تعداد يې (۴۰۰۰۰) زره کسانو ته چې په هر قسم وسله سمبال وو رسيده.

• - اخرجه الواقدی وابن عساکر عن عبدالله ابن زبیرؓ فی الکنزجه ص 294

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسـول الله (صلی الله علیه وسلم) هم بیغمه نه وو، د هغوی خبرونه به ورته رسیدل نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به چې کله هم د کومې غزا نیت کاوه چاته به یې نه ویل؛ خو دا ځل چې معرکه سخته وه او د رجب المرجب میاشت وه زیاته ګرمي وه او سخته وچکالي هم وه او قجورې بالکل په پخیدو وې، او د عربو اکثره خوراک قجورې وې چې د ټول کال توښه به یې په همدې وخت کې برابروله؛ نو رسوالله صلی الله علیه وسلم دا ځل خبره پټه و نه ساتله ممبر ته وخوت او په ښکاره یې صحابه کرام جهاد ته را وبلل.

دغه غرنۍ لار چې تقریبا (۱۰۰۰) کیلومتره برابریږي، اوس چې دغه لارې پخې شوي او پوخ سړک لري نو هم (553) شاوخوا کیلومتره لاره جوړیږي.

عبدالرحن بن حباب سلمي (رضي الله عنه) فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خطبې په محال وو، عثمان (رضي الله عنه) پورته شو او ویې ویل زما لخوا سل اوښان د جهاد د سامان سره د الله په نوم وقف شول، همدا سې عبدالرحن ابن عوف (رضي الله عنه)، عباس بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) او عبادة ابن صامت (رضي الله عنه) هم اعلان وکړ او په همدې وخت کې د صحابه کرامو نر او ښځو کومکونه شروع کړل.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یوه پوړۍ د ممبر نه راښکته شو بیا یې خلک جهاد ته ترغیب کړل عثمان (رضي الله عنه) بیا د سلو اوښانو سره د سامان او وسلې د وقف کولو وعده وکړه.

دې وخت کې عمر (رضي الله عنه) کور ته لاړو او دا ځل یې له ځانه سره وویل نن به له ابوبکر (رضي الله عنه) مخکې کېږم او خپله نیمه شتمني یې حاضره کړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ترې پوښتنه وکړه چې کور کې دې څومره مال پرېښود عمر (رضي الله عنه) ورته وویل نیم مال مې پرېښې نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعا ورته وکړه.

دې وخت کې ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) هم راورسیدو چې د خپلې شتمنۍ ټول هر څه یې راوړل، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ترې پوښتنه وکړه کور کې دې څه پرېښودل؟ ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) ورته وویل هېڅ مې هم نه دي پرېښي، فقط الله او د الله (ج) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مې پرېښې دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ډیر زیات خوشحاله شو او عمر (رضي الله عنه) وویل په الله (ج) قسم چې زه له ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) نشم مخکې کیدای، ځکه چې ما نیمایي او ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) پوره شتمني راوړله.

او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هماغسې د جهاد او کومکونو ترغیب جاري وساتلو او عثمان غني (رضي الله عنه) ورته امداد زیاتولو چې اخر کې (۹۵۰) اوښان او (۵۰) اسونه بار وعده یې وکړه او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په داسې حال کې له ممبره راښکته شو چې د عثمان (رضي الله عنه) په باره کې یې د تعجب لاسونه خوځول بیا یې وفرمایل عثمان (رضي الله عنه) که له نن نه بعد کومه ګناه هم وکړي ورته معاف به شي عثمان (رضي الله عنه) جنتي دی، عثمان (رضي الله عنه) جنتي دی همدا یې تکرارول او له ممبره راښکته شو.

بل خوا هغه خلکو چې هېڅ نلرل د حسرت اوښکې تویولې چې کاش موږ سره څه وای چې کومک مو کړی وای تر دې چې بعضې زنانه صحابیانو (رضی الله عنهم) به لږ څه لاس کې نیولي وه هغه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېش کړل چا به فقط يو څو قجوري راوړي چا به د غاړي هارونه، ګوتې، پايزيبې راوړل، هېڅوک هم داسې نه وو، چې د خپل وس او توان مطابق يې کومک نه وي کړی.
منافقيو به چې د چا لاس کې لږ شی وليدو نو يو بل سره به يې سترګه کونه وهل چې دوی ته وګوره په دې لږو شيانو کافران ماتوي، چې په همدې باره کې هم بيا مبارک اياتونه نازل شول.
عبدالرحمن ابن سمره (رضي الله عنه) فرمايي، چې عثمان (رضي الله عنه) يو ځل (۱۰۰۰) ديناره بل روايت کې (۱۰۰۰۰) لس زره دينارهراوړل او هغه يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په مبارکه غېږه کې وروا چول او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) هغه په خپلو مبارکو لاسونو کې اړول راړول او ويل يې عثمان (رضي الله عنه) هېڅ عمل هم له جنته را و نه ګرځوي عثمان (رضي الله عنه) جنتي دی.
عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) هم د دې پشان حديث شريف ذکر کړی، د حذيفه ابن يمان (رضي الله عنه) هم بخاري شريف، مسلم شريف، ترمذي شريف او ابن ماجه شريف همداسې ذکر کړی، بل خوا تر (۸۰) زيات منافقين مدينه منوره او تقريباً همدومره کلو باندېو کې وه، چې هغوی په زور او شور د خلکو په منځ کې پټه شيطاني شروع کړه چې دې ګرمی ته ګوره د قجورو پخېدو ته ګوره او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دومره لرې ځای جهاد ته د تللو ګوره !
د تبوک غزوې ته جيش العسره ځکه وايي چې تر ټولو غزواتو دې کې د ګرمی موسم هم وه تکليفونه هم ډېر وه، ځکه پوره (۱۵) ورځې له يوې خوا اوږد مزل وه، لاره کې غرونه، دښتې، وچې او صحراګانې وې مجاهدينو سره وسله لږه وه ټول (30) زره مجاهدينو سره فقط (3) زره اوښان او اسونه وو، هرو لس تنانو باندې يوه سورلي وه، چې وار په وار به پرې سپريدل، خو مجاهدينو د دنيا تاوانونه او د لارې تکليفونه هر څه ومنل او په ډېره بهادري يې ځانونه تيار کړل، مدينه منوره کې فقط زنانه، سپين ږيري او ماشومان پاتې شول، غير له منافقينو نور ټول د جهاد مناسب کسان روان شول، سو چه مسلمانانو کې فقط درې تنه پاتې شول چې راتلونکې نشر کې به يې په تفصيل بيان کړو.
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مدينه منوره کې تکړه پهلوان او بهادر شخص علي (رضي الله عنه) پرېښود چې د پاتې شوو معذورانو ضرورتونه پوره کړي او که له کوم خوا دښمن راشي نو يوازې هم ورته بس دی.
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سفر شروع کړ، لاره کې د ثمود قوم هغه ځای هم وه چې الله (ج) وربانديې غذاب نارل کړی وه، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مجاهدينو ته وويل له دې ځايه په تيزئ سره تير شئ او استغفار ووايی هسې نه چې په موږ عذاب نازل نشي صحابه کرامو استغفار شروع کړ او په تيزئ سره له هغه ځايه ووتل.
لاره ډېره اوږده وه د خوراک او څښاک لپاره مناسب توکي نه وه، تش وچ غرونه، سپيرې دښتې وې مجاهدينو به له ولږې د ونو پاڼې خوړلې چې له همدې امله يې خولې، شونډې او ژبې وچاودېدې.
بعضې صحابه کرامو اوښان د دې لپاره ذبحه کړل، چې د اوښانو خيټه کې موجودې اوبه وڅښي او ځانونه له مرګه پرې وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د تبوک مقام کې کافرانو خیمې لږولې وې او بیشماره آسونه، اوښان، پسونه او زیات خوراکي شیان ورسره موجود وو، پریمانه وسله هم ورسره وه، هغوی هم انتظار کاوه چې مسلمانان ور ورسیږي او دوی پرې د تورو برید وکړي، رومیان او د روم بادشاه به شراب وڅښل بیا به یې ځانته ډمې ګډولې او مست به وو، هغوی چې له وړاندې هلته رسیدلي وو او هر څه ورسره موجود وو، خو مسلمانان اګر چې داخل یې تعداد زیات وو؛ خو ستومانه، وږي او تږي هلته ورسیدل نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یوه مشهوره خطبه چې په خپل وخت به بیان شي وفرمایله او مجاهدینو ته یې د صبر، حوصلې، استقامت او په الله (ج) د توکل کولو ترغیب ورکړو.
خو مقابل لوري ته د شرابو او کبابو په نشه مست دښمن چې مجاهدین ولیدل زړونه یې وغورځیدل ویره وربانديې ګډه شوه او ټولې ډلې یې په تښتېدا شولې.
دلته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) صحابه کرامو ته د شپې د ارام کولو او سبا لپاره د جنګ تیاري کولو امر ورکړ، خو کافرانو د شپې د تیارې نه ګټه واخیسته وتښتېدل، سامانونه او خوراکي مواد تري پاتې شول، کله چې سبا شو نو معلومه شوه چې کافرانو تشې خیمې پریښې دي او تښتېدلي نو د دې ځای هغه قبایلو چې کافرانو سره یې د ملاتړ وعده کړې وه، او ورته معلومه شوه چې هغوې تیښته کړې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغلل څوک مسلمانان شول او چا جزیه ومنله په دې طریقه الله (ج) دغه جهاد بې له وینې تویولو کامیاب کړ.
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پوره شل (20) ورځې هلته پاتې شو چې ځایي خلکو ته معلومه شي چې مسلمانان ویریدونکي خلک نه دي او دغه شل ورځو کې ډیرو قومونو او قبایلو معاهدې وکړې او په جزیه ورکولو راضي شول.
کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لږ په ارام شو نو پوښتنه یې وکړه، چې کعب ابن مالک نه ښکاري هغه چیرته دی؟ یو صحابي ورته وویل هغه دې کال کې ډیر مالداره شوی او د دنیا محبت یې زړه ته ننوتلی هغه اوس پخوانی تکړه مجاهد نه دی.
نو معاذ هغه صحابي ته وویل، تا دروغ وویل زه چې څومره هغه پیژنم هغه د خیر سړی دی او د هغه ایمان کې هیڅ شک نشته، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هیڅ و نه ویل چوپ پاتې شو.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سیرت (۸) برخه:

عثمان (رضي الله عنه) فرمایي: چې موږ به دوه قجورې په یو نفر خوړلې او بعضو صحابه کرامو به د قجورو زړې خوله کې نیولې وو تر هغې چې خوله کې یې لاړې پیدا شي**، د کعب ابن مالک (رضي الله عنه) نه خپله روایت دی زما سره په یوه غزا کې هم دوه اوښان نه وو جمع شوي؛ خو د تبوک غزا کې ما سره موجود وو، وسله او خوراکي شیان هم را سره وو، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) جهاد ته د تللو امر وکړو ما ویل ما سره خو هر څه شته بس ځان هر وخت تیارولی شم تر هغې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او نور مجاهدین روان شول بیا مې هم وویل زما سورلی تېزه او

** -صحیح مسلم شریف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکړه ده کـه دوه ورځـې بعـد هـم روان شـم ورپسـې رسـیدی شـم پـه همـدې کـې ورځـې تیـرې شـوې خـو زه لا روان شـوی نـه وم چـې هغـوی پسـې د رسـیدو موقـع مـې لـه لاسـه ورکـړه، کعـب ابـن مالـک (رضـي الله عنـه) فرمـایې چـې زه زیـات خپـه شـوم چـې مـا ښـه کـار ونکـړ او تـر هغـې چـې رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) بیرتـه راوګرځیـدو، د رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) عـادت مبـارک وو چـې لـه سـفره بـه بیرتـه راوګرځیـدو نـو اول بـه مسـجد شـریف تـه لاړو هلتـه بـه یـې دوه رکعاتـه تحیـة المسـجد لمـونځ ادا کـړ، خلکـو بـه ورسـره ملاقاتونـه وکـړل بیـا بـه کـور تـه لاړو، نـو چـې کلـه مسـجد نبـوي (صـلی الله علیـه وسـلم) تـه راغـی نـو د منـافقینو ګڼـه ګونـه زیاتـه وربانـدې زیاتـه شـوه هـر یـوه بـه خپـل عذرونـه مخـې تـه کـول، قسـمونه بـه کـول او رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) بـه یـې ظـاهراً عذرونـه قبلـول او بـاطن بـه یـې الله (ج) تـه پرېښودو.

نـو ماتـه هـم قسـم قسـم فکرونـه زړه کـې راغلـل، چـې څـه ورتـه ووایـم ځکـه چـې زه بـې لـه عـذره پـاتې او زه پـه ټولـو غزاګـانو کـې شـریک شـوی وم، غیـر د بـدر نـه؛ بـدر نـژدې هـم وه او دومـره تکلیـف هـم نـه وه پکـې او بیـا رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) څـه راتـه و نـه ویـل، خـو پـه دې غـزا کـې زه هـم مالـدار وم، هـم سـفر لـرې او تکلیفـې وو، خـو اخـر مـې فیصـله وکـړه چـې بـې لـه رښـتیا ویلـو پـه بـل شـي کـې نجـات نشـته رښـتیا به وایم او بس.

نـو مسـجد شـریف تـه ورغلـم سـلام مـې واچولـو، خـو رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) ځـواب رانکـړ او مـخ مبـارک یـې را څخـه وګرځولـو، نـو زه ورغلـم مخـامخ ورتـه کیناسـتم ورتـه مـې وویـل، یـا رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) تـه یـو ځـل زمـا خبـره واوره بیـا چـې څـه امـر کـوې زه حاضـر یـم نـو رسـول الله (صـلی الله علیه وسلم) راته وویل چې ایا تاسره سورلي نه وه؟

کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمایي ما ورته وویل هو.

خـو یـا رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) تـا تـه معلومـه ده زه چالاکـه یـم ښـه ژبـه لـرم کـه درواغ درتـه ووایـم ته به یې قبول کړؤې خو الله (ج) نه به څنګه پټېږم.

والله چـې مـا تـه هـیڅ عـذر نـه وو نـو رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) راتـه وفرمایـل تـا رښـتیا وویـل پورتـه شه لاړ شه تر څو چې الله (ج) حکم راولېږي.

کعـب ابـن مالـک (رضـي الله عنـه) فرمـایې چـې مـا پوښـتنه وکـړه چـې بـل کـوم مسـلمان هـم شـته چـې پـاتې شوی وی؟

نـو خلکـو راتـه وویـل هـو هـلال بـن امیـه (رضـي الله عنـه) او مـرارة ابـن ربیـع (رضـي الله عنـه) هـم شـته، هغـوی هـم رښـتیا وویـل او هغـوی تـه هـم رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) وویـل چـې د الله (ج) حکـم تـه انتظار وباسئ.

پـه همـدې حالـت کـې لـس ورځـې تیـرې شـوې او مـوږ درې واړه ډیـر خپـه وو چـې رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) یـو صـحابي راولېږلـو چـې لـه کـور والا یعنـې ښـځو نـه هـم جـدا شـئ او شـوک بـه خبـرې هـم ورسـره نـه کـوي، نـو مـا پوښـتنه وکـړه ایـا ښـځه طلاقـه کـړم هغـه وویـل فقـط خبـرې او جمـاع بـه نـه ورسـره کـوئ، او هغـه نورو دوه تنانو ته هم همدا سې امر وشو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



*هلال بن امیه (رضي الله عنه)* د جهاد نه خپل د قجورو د باغ له وجهې پاتې شوی وه هغه ټول باغ صدقه کړ او *مراره ابن ربیع (رضي الله عنه)* ته خپلوان پس له ډیرې اوږدې مودې راغلي وو او د هغوی له وجهې له جهاده پاتې شوی وه، هغه د ټولو خپلوانو سره تعلقات ختم کړل،

*کعب ابن مالک (رضي الله عنه)* فرمايي چې دغه دوه کسانو ته خبر ورسیدو چې د خپلو ښځو نه به لرې پاتې کېږئ نو دوی دواړه به مسجد ته نه راتلل کورونو کې به یې لمونځ کولو، خو د دواړو ښځې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ورغلې یوې ورته وویل، هلال ابن امیه (رضي الله عنه) مریض دی عمر یې هم زیات دی نو د خدمت لپاره یې بل څوک نشته نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته اجازه ورکړه چې غیر له مجامعت نه نور خدمت یې کولای شي.

او د مرارة ابن ربیع (رضي الله عنه) ښځې هم په یو عذر اجازت واخیستو، کعب ابن مالک (رضي الله عنه) چې ځوان هم وو خپله ښځه یې پلار کره ولېږله، کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمايي چې زه زړور وم مسجد ته تلم بازار ته به تلم، کله به چې مسجد ته لاړم سلام به مې واچولو نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به مخ مبارک را نه وګرځاوه او ما به ورته کتل چې د سلام ځواب راکوي او کنه؟

کله به چې زه په لمونځ مشغول وم نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به راته کتل چې کله به زه ورته متوجه شوم مخ مبارک به یې وګرځولو، کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمايي یوه ورځ مې زړه زيات راتنګ شو نو ما باندې تر ټولو ګران سړی د خپل تره ځوی ابو قتاده (رضي الله عنه) وو هغه زما ګاونډي هم وو ما په دیوال خیته ورواچوله هغه مې ولیدو چې کور کې ناست دی ورته مې وویل: ستا دې په الله (ج) قسم وي ته نه پوهېږې چې زه یو سوچه مسلمان یم او منافق نه یم؛ نو هغه ځواب رانکړ، ما دغه قسم درې واري ورواچولو خو هغه فقط دومره له ځان سره وویل الله (ج) او رسو الله (صلی الله علیه وسلم) پوهېږي.

کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمايي چې زړه مې تنګ شو بازار ته لاړم ګورم چې هلته د شام نه چا انګور راوړي چې خرڅ یې کړي خو هغوی ته چې هر څوک ورشي نو پوښتنه ترې وکړي چې څوک به کعب ابن مالک (رضي الله عنه) راته وښايي نو هغوی چې زه ولیدم په لاسونو یې زما طرف ته اشاره وکړه چې کعب ابن مالک (رضي الله عنه) دا دی.

نو هغه کس ما ته راغي او یو لیک یې راکړو ما چې لیک پرانیستو هغه کې د شام بادشاه نوم لیکلی وه چې دا لیک خاص د هغه له خوا نه وو هغه لیک کې لیکلي وو چې ما ته خبر رارسیدلی دی چې ستاسو دوست تاسو سره ظلم کوي خلک یې د خبرو کولو نه درسره منع کړي دي خپله هم خبرې نه درسره کوي؛ نو ته دلته راشه دلته به تا ته عزت درکولی شي، لوړه عهده به درکړل شي او سیاسي پناه به هم درکولی شي چې هر څه چې غواړې !

موږ به یې تا ته درکړو کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمايي چې کله مې لیک ولوست نو إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعون مې وویل چې ایا زما ایمان دومره کمزوری شو چې کافران ما ته دعوت راکوي نو هغه لیک مې تنور ته وغورځولو.

بیرته کور ته راغلم کور کې مې لمونځ کولو او تر دې چې پوره (۵۰) ورځې تیرې شوې اخرې شپه باندې مې د بام په سر تهجد وکړل بیا د سهار کیدلو وروسته د سهار لمونځ وکړو او الله (ج) ته مې ښه ډېر وژړل چې یا الله (ج) نور مې توبه قبوله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مسجد نبوي (صلی الله علیه وسلم) کې چې لمونځ ادا شو نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) صحابه کرامو ته د وحې نازلیدو او زموږ د ریواړو د توبې قبلیدو او مجاهدینو ته د جهاد د قبلیدو او منافقینو ته د رسوایي زیری په کې و، او ټولو ته یې مبارکي ورکړې وه.•

دې وخت کې زما یو دوست صحابي په آس سپور ما ته د زیري راکولو لپاره راروان شوی وه خو تر هغه وړاندې بل صحابي (رضي الله عنه) جبل ابو قبیس یو لوړ ځای ته ختلی وو او له هغه ځایه یې اواز وکړو چې زموږ د ریواړو نوموړو یې اخیستل او مبارکي یې راکړه چې ستاسې توبه الله (ج) قبوله کړه.

کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمایي زه په سجده پریوتلم او د شکر سجده مې وکړه دغه وخت ما سره فقط یوه جوړه جامې وې هغه مې زیري والا ته ورکړې او ما له چا نه ځانله په سوال موقتي جامې راواخیستې او له اغوستلو وروسته په منډه مسجد ته لاړم.

تر ټولو اول ابو طلحه (رضي الله عنه) مبارکي راکړه مصافحه یې راسره وکړه، چې هیڅ کله به مې هم له یاده و نه وځي.

کله به چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوشحاله وو نو مخ مبارک به یې شغلې کولې لکه سور انار به ځلیدو، کله چې زه ورغلم مبارکي یې راکړه ویې فرمایل تاسو د ریواړه رښتیا ویلو له جهنم بچ کړئ بیا ټول صحابه وار په وار رامخکې کیدل او مبارکي یې راکوله.

نو زه چې بېحده خوشحاله وم نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته مې وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زما ټول مال د الله (ج) په لار کې صدقه دی چې هغې کې زما د قجورو مشهور او ښکلی باغ باغ هم دی نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وویل نه لږ څه ځانته هم پرېږده.

کعب ابن مالک (رضي الله عنه) فرمایي ما ورته وویل یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نیم مال نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وفرمایل نیم هم ډېر دی؛ نو بیا مې دریمه حصه صدقه کړه.

**د رښتیا ویلو نتیجه:**

په غلطۍ اقرار او توبه کول، صبر کول، د شکر سجده، زیري ورکوونکي ته هدیه ورکول، صدقه کول، کوم ګناه باندې د هغه سره خبرې پرېښودل، لکه اوس وخت کې څوک چاته د سیاسي پناه او تنخواه وړاندېز کول او هغه ردول او د حق طرفداري کول، د کافرانو په وعدو اعتبار نه کول او منافقینو ته هر وخت متوجه او سیدل، لرې ځای ته جهاد ته تلل، د جهاد او شهادت لپاره اوږد سفر کول، نه داسې چې شهادت او جهاد در ته د کور مخې ته راشي او ته ورته دلیلونه لټوې،

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

• - سورت التوبة ۱۱۷ او ۱۱۸ ایاتونه لَقَدْتابَ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ الخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۹) برخه:

**او د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د خلافت په وخت کې باران نه کيدل وچکالي او د عثمان (رضي الله عنه) صدقات:**

سوال: ايا باران نه کيدل او وچکالي پيغور چاته ورکولای شو چې ستاسې وخت کې باران نه وريده وچکالي وه؟

ايا د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په وخت کې د وچکالی او باران نه کيدلو بيشماره احاديث په صحاح سته وو کې نه دي موجود؟

د عبد الله ابن عباس (رضي الله عنه) نه روايت دی، امام احمد (رح) په خپل مسند احمد کې ذکر کړي دی چې د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د خلافت په وخت کې په مدينه منوره کې سخته وچکالي راغله او بارانونه نه کيدل نو لوی لوی صحابه کرامو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته راغلل چې قحط سالي ده او د مدينې منورې خلک له لوږې او تندې سره مخ دي؟

بايد څه وکړو؟

ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ورته وفرمايل لږ صبر او استقامت وکړی باران نه کيدل د الله (ج) امتحان دی او الله (ج) په هغه چا امتحان راولي چې امتحان کې کامياب راووځي !

دا د الله (ج) عذاب نه دی.

نزدې وخت کې به الله (ج) د خوراک بندوبست وکړي.

اوس نو وګورئ د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) وړاندوينه يا کرامت.

لږ وخت نه وو تير شوی چې د عثمان (رضي الله عنه) د تجارت قافله مدينې منورې ته راورسيدله، کله چې د مدينې تجار او سخيان خلک خبر شول، نو خوشحاله شول چې اوس به له عثمان (رضي الله عنه) دغه خوراکي سامان واخلو او په خپله به هم ماړه شو او په فقيرانو به يې هم وويشو؛ نو ټول تجار په بيړه د عثمان (رضي الله عنه) کور ته ورغلل دوازه يې ورته وټکوله عثمان (رضي الله عنه) ورته راووتلو او پوښتنه يې تري وکړه ولې خير خو دی څنګه ټولو په شريکه زما کور ته تشريف راوړی دی؟

تجارانو صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ورته وفرمايل موږ خبر شوي يو چې ستا د تجارت سل (۱۰۰) مايه اوښان په خوراکي توکو بار راغلي نو موږ غوښتل چې په بيه يې درڅخه واخلو او پخپله يې هم وخورو او په فقيرانو ته يې هم تقسيم کړو.

عثمان (رضي الله عنه) ورته وفرمايل دننه راشئ !

تجاران صحابه کرام د عثمان (رضي الله عنه) کور ته دننه شول.

نو عثمان (رضي الله عنه) تري پوښتنه وکړه چې څومره ګټه راکوئ؟

هغوی ورته وفرمايل، د لس (۱۰) دينارو خوراک در نه په پنځلس (۱۵) اخلو !

عثمان (رضي الله عنه) ورته وفرمايل نه زيات يې کړئ کنه نو زه يې په اوچت قيمت خرڅوی شم، تجارانو صحابه کرامو ورته وويل زموږ نه غير مدينه کې نور تجاران نشته نو ته به يې څنګه په اوچت قيمت خرڅ کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان (رضي الله عنه) ورته وفرمایل یقین وکړئ چې زه یې یو په لسه خرخوی شم تاسو په دینار کې نیم دینار ګټه راکوئ او زه د دینار خوراک په لس خرخوی شم نوره ستاسو خوخه که اخلئ نو میدان ته شئ کنه نو زه یې په تاسو نه خرڅوم.

تجارانو ورته وویل اول خو موږ دومره وس نلرو چې په دومره قیمت یې واخلو او بل تا ته به هم داسې څوک پیدا نه شي چې په دومره لوړ قیمت یې درڅخه واخلي؟

نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل ما دغه مال خرڅ کړی دی!

ما دغه د سلو اوښانو بار خوراکي شیان په الله (ج) خرڅ کړی تاسو مهرباني وکړئ ټول یوسئ او په انصاف یې د مدینې منورې په خلکو تقسیم کړئ!

نو تجاران خوشحاله شول او ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) ته یې زیری ورکړ، تا چې ویل لږ صبر او استقامت وکړئ الله (ج) به بندوبست وکړي!

دا دی الله (ج) د عثمان (رضي الله عنه) په مال باندې د مدینې منورې خلک له مشکله خلاص کړل.

عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) فرمایي ما خوب ولیدلو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نور جامې اغوستې، د نور په اس سپور دی، د نور یو څه یې په لاس مبارک کې نیولي او ماته داسې معلومه شوه چې ډېر په بیړه دی؛ نو ما ورته وویل یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زما خو ستا د لیدلو ډېر شوق وو ستا خبرې مې ډېرې یادیدلې ستا مخ مبارک ته کتل ما ته ډېر خوند راکوي ته چیرته روان یې چې دومره په بیړه یې لږ صبر وکړه چې زه دې په لیدلو موړ شم بیا به لاړ شې.

عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) فرمایې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل، عثمان (رضي الله عنه) صدقه کړې وه او هغه الله (ج) قبوله کړه او الله (ج) ورته یو کور په جنت کې ورکړ او یوه ښایسته جوړه یې ورته په نکاح کړه او س د هغې واده ته زه غوښتل شوی یم نو زه هلته روان ځکه په بیړه یم.

نوټ: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي چې که چیرته د جنت د حورې یو غاښ دنیا ته راښکاره شي نو لمر به تت شي او که حوره د دنیا په اوو سمندرونو کې لاړې توی کړي نو اوبه به یې د شاتو نه زیاتې خوږې شي.

عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) فرمایې چې زه راویښ شوم نو پوی شوم چې هغه صدقه همدغه وه چې الله (ج) د عثمان (رضي الله عنه) نه قبوله کړه.

❃ ❃ ❃ ❃ ❃

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۰) برخه:

### د عثمان رضي الله عنه کوهی.

د عثمان (رضي الله عنه) په نوم د بنک اکاونټ.

د عثمان (رضي الله عنه) په نوم پنځه ستورو والا لويه عماره او هوټل.

د عثمان (رضي الله عنه) د کوهي په برکت ټوله دنيا کې نور کوهيان.

د احاديثو په ټولو مستندو کتابونو کې د بئر رومه حديث په کثرت سره ذکر شوی، بئر رومه ته ولې د رومه کوهی ويل کېږي؟ مختلف روايتونه دي، يو روايت دی رومه عفاري يو صحابي (رضي الله عنه) وو دا د هغه ملکيت وو ځکه د هغه نوم ته يې نسبت کېږي، چې دا د وادي العقيق الاصفر علاقه کې وو، خو ډېرو روايتونو کې ذکر شوي چې دا کوهی د يو يهودي وو، کله چې مهاجرين مدينې منورې ته راغلل او هغوی هلته د زم زم په څېر او بو څکلو عادت شول د نورو کوهيانو اوبه مالږينې وې او که د کوم کوهي اوبه که خوږې هم وې يا کوهيان وچ شوي وو يا يې خوندورې اوبه نلرلې، خو يوازې د رومه کوهی وه چې اوبه يې زياتې خوږې او خوندورې وې او زم زم اوبو ته ورته وو.

د دې کوهي ملکيت چې يهودي سره وو هغه به اوبه زياتې په لوړ قيمت خرڅولی يو مشک اوبه به يې په يو دينار خرڅولی او که به چا يوه لپه اوبه څکلی هغه به يې هم يا په اوربشو يا قجورو ورکولی؛ نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته انصارو او مهاجرينو د اوبو شکايت وکړ، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل که چا دغه کوهی واخيستو او خيرات يې کړ نو الله (ج) به ورته جنت کې يوه چينه او باغ ورکړي؛ نو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) هر يوه دا کوښښ کولو چې يهودي يې په خرڅولو راضي کړي چې تر ټولو مخکې عثمان (رضي الله عنه) وو.

عثمان (رضي الله عنه) يهودي ته وويل دا کوهی په ما خرڅ کړه او چې څومره روپۍ غواړې درکوم يې يعنې د هغه يهودي د خوښې روپۍ يې ورکولې خو يهودي انکار کولو چې بالکل يې نه خرڅوم بيا عثمان (رضي الله عنه) ورته وويل نيم راباندې خرڅ کړه او قيمت به يې هم ستا د خوښې درکړم.

يهودي په دې خبره راضي شو او فکر يې وکړ چې عثمان (رضي الله عنه) يو په تجارت پوه دی کيدای شي زما تجارت هم د ده له برکته نور هم کامباب شي، نو اخر يهودي په (۱۲۰۰) دولس زره ديناره راضي شو او نيم کوهی يې خرڅ کړ، چې يوه ورځ به د عثمان (رضي الله عنه) نوبت وو او يوه ورځ به د يهودي؛ خو کله چې عثمان (رضي الله عنه) نيم کوهی واخيستلو نو هغه خپل نوبت خيرات کړو چې هر چا ته به د اوبو ضرورت وه د عثمان (رضي الله عنه) په نوبت کې به يې اوبه پوره کولی چې کله به د يهودي نوبت شو نو نه به مسلمان ورتلو او نه يهودي.

نو يهودي پوی شو چې زما تجارت ناکام دی او څوک اوبو ته نه راځي نو هغه نيم کوهی يې هم په (۸۰۰۰) اته زره ديناره په عثمان (رضي الله عنه) خرڅ کړ، چې د کوهي قيمت ټول (۲۰۰۰) شل زره ديناره شو.

نو عثمان (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته راغی ورته يې وويل تا چې کومه وعده کړې وه په جنت کې هغه زما لپاره شته؟ نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل بلکې له هغې څو چنده زياته وعده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې کوهي ژوروالی (37) متره او پلن والی يې (۴) متره دی، عثمان (رضي الله عنه) هغه اوبو ته چې خلکو به مشکونه ورباندې مینځل د قجورو بوټې وکرل، او هغه بیا په زياتیدو شول.
عثمان (رضي الله عنه) دا کوهی داسې وقف کړو چې تر قیامته به ثوک مداخله په کې نه کوي؛ نو همداسې دغه عادت تر اوسه جاري دی او ټولو حکومتونو ورته خاصه توجو کړې چې (37) کال وړاندې د سعودي حکومت پکې باقعده نورې قجورې وکرلې د اوبه خور مشینونه يې ورباندې ولګول او قجورې يې نورې هم زياتې کړې د اوقافو وزارت هر کال نیمې خرڅولې، نیمې يې په کونډو یتیمانو ویشلی چې د قجورو تعداد يې (۱۵۵۰) ته رسیدلې، نو د عثمان (رضي الله عنه) په نوم يې د بنک اکاونټ جوړ کړ او پاتې روپۍ به يې په کې جمع کولې، دغه روپۍ دومره زیاتې شوې چې حکومت د دې کوهي په اوبو د جوړ شوي باغ په روپیو نورو ملکونو کې د کوهیانو کیندلو موسسې جوړې کړې چې تر اوسه يې په ټوله دنیا کې زرګونه کوهیان مهاجرینو او ځایي خلکو ته کیندلي دي.
له بلې خوا د مدینې منورې اوقافو وزارت اوس وخت کې په همدې روپیو یوه لویه عماره جوړه کړه او هغې کې يې د حاجیانو لپاره رهایشي ځایونه او مهمان خانې جوړې کړې چې دغه هوټل او مهمان خانه د پنځه ستورو والا مشهورو هوټلونو څخه حسابېږي.
چې اوس د هغې کلنۍ امدن (۵۰) میلیونه دیناره جوړېږي، اوقافو دغه روپۍ د عثمان (رضي الله عنه) په نوم د بنک اکاونټ کې جمع کوی او بیا يې د ضرورت په وخت په مختلفو ملکونو کې په کونډو یتیمانو او ضرورتمندو ویشي.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضي الله د سيرت (۱۱) برخه:

### د عثمان (رضي الله عنه) فضايل:

- عثمان رضی الله عنه په جاهليت کې هم حياناک وه،
- چې خبرې به يې کولې ډيرې به خوږې وې.
- بتانو ته يې سجده په جهالت کې هم نده کړې.
- زنا او زنا ته بلونکې اعمال يې نه دي کړي.
- کنځل يې په ټول عمر چا ته نه دي کړي.
- شراب يې په ټول عمر کې نه دي څښلي.
- عثمان (رضي الله عنه) به ويل په دغه پورته شيانو باندې الله (ج) په ما ډيره مهرباني کړې ده.
- زه په اسلام راوړلو کې څلورم کس يم.
- بل دا چې جيش العسرة يعنې د تبوک د غزا دريمه برخه مجاهدين ما په خوراک، څښاک، وسله او سورلۍ سمبال کړي وو.
- د قران کريم د جمع کيدو او ترتيب توفيق ما ته الله (ج) راکړی.
- له کومې ورځې چې زه مسلمان شوی يم او لاس مې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته په لاس کې ايښی ما خپل ښی لاس خپلې شرمګاه ته نه دی نژدې کړی.
- په ما باندې هيڅ داسې د جمعې ورځ نه ده راغلې چې يو غلام مې نه وي ازاد کړی.
- زما په زړه کې د غلطو کارونو ارزو نده راغلې.
- سندرې مې نه دي ويلي او نه مې اوريدلي.
- دروغ مې نه په جاهليت کې ويلي او نه وروسته.
- تجارت کې مې دوکه او چل نه دی کړی.
- زنا او فحاشي خبرې مه نه دي کړي.
- عثمان (رضي الله عنه) فرمايي، قريشو د جهالت په وخت کې هم ماسره دومره مينه لرله چې کومه خوشحالي به پيدا شوه نو ښځو به سندرو کې يوائې زما صفتونه کول او زما سخاوت، حيا او بهادري به يې ستايله.
- عثمان (رضي الله عنه) فرمايي الله (ج) ما ته د هجرت کولو درجه په نصيب کړه، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به فرمايل په انبياوو کې يوائېني مهاجر چې د اولاد سره يې هجرت کړی لوط (ع) دی او په صحابه کرامو کې عثمان (رضي الله عنه) دی.
- عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې يوه ورځ بي بي رقيه (رضی الله عنها) ما باندې سر مينځلو او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) زمونږ کور ته راغی نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) بي بي رقيه (رضي الله عنها) ته وويل، لور جانې د عثمان (رضي الله عنه) ډير خيال ساته، عثمان (رضي الله عنه) يوائېنې شخص دی چې خويونو کې ماسره مشابهت لري.
- عثمان (رضي الله عنه) فرمايي، زه دغه خبرې زيات خوشحاله کړم چې زما مشابهت په خويونو کې د رسوالله (صلی الله عليه وسلم) په شان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



➔ عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې ویره طبیعي شی دی، هر څوک کله کله ویریږي خو چې څومره غزاګانې ما کړي نو د مرګ یا زخمي کیدلو ویره په ما نه ده راغلی.

➔ عثمان (رضي الله عنه) فرمايي، ما دښمن هم له شا له خوا نه دی وهلی، دغه کار ما ته ناځوانې ښکاره کیده، چې کله به دښمن ما ته مخامخ شو نو حمله مې پرې کوله.

➔ عثمان (رضي الله عنه) فرمايي، ما کله هم داسې ځای کې بولې نه دي کړي چې خلک مې ووینې.

➔ ابن عباس (رضي الله عنه) فرمايي، عثمان (رضي الله عنه) ته به چې هر څومره خوراکي شیان راغلل او هغه که به هر څه وو، په غریبانو به یې تقسیم کړل چې هغوی یې وخوري او خپله به کور ته لاړو او سرکې سره به یې د اوربشو ډوډۍ خوړله.

➔ عثمان (رضي الله عنه) به مشرانو سره د ملاقات په وخت سترګې مبارکې له شرمه ښکته نیولې وې.

➔ عثمان (رضي الله عنه) ته به چې هر حاجتمند راغی د هغه خبرې به یې په غور او دقت سره اوریدلې او تکبر او لویې نه کوله.

➔ عثمان (رضي الله عنه) به چې په لاره روان وو؛ نو ځمکې ته به یې کتل، د دې په خاطر چې که کومه رنانه مخې ته راشي چې سترګې مې پرې و نه لړیږي اګر که اول کاته ګناه هم نلري.

➔ کله کله به یو څوک مخې ته ورغی او عثمان (رضي الله عنه) به وربانده نه وو پوی شوی تر څو به چې هغه وربانده اواز نه وو کړی.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضی الله عنه د سیرت (۱۲) برخه:

⇐ **د حدیبیې صلحه**

⇐ د صلحې اسباب.

⇐ د صلحې فایدې.

⇐ د صلحې نتایج.

⇐ د صلحې شرطونه.

⇐ د صلحې ګټه چا ته زیاته ورسیده؟

په کال (۶۲۷) م کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وغوښتل چې عمره وکړي نو مسلمانانو ته یې د تیارئ امر ورکړ، فقط د لارې مصارف، د ذبحې لپاره اوښ یا بل حیوان او توره یا نېزه چې د خپل ځان دفاع پرې وکړي نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره (۱۴۰۰) کسان عمرې ته تیار شول او د مکې مکرمې په طرف روان شول، خو د مکې مشرکینو ته جاسوسانو غلط خبر رسولی وو، چې مسلمانان جنګ ته راروان دي، نو د مکې ټولې لارې او درې یې له جنګیالیو ډکې کړې؛ کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ذوالحلیفې مقام ته له خپلو صحابه کرامو ملګرو سره ورسیدو، نو هغه جنګیالیو یې مخه ونیوله، ځکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپلو ملګرو سره بیرته حدیبې مقام ته راستون شو هلته یې عمر (رضي الله عنه) راوغوښتو او ورته یې وویل، چې غواړم ته مکې ته لاړ شې او د مکې مشرکینو ته ووایې چې موږ جنګ ته نه یو راغلي موږ فقط عمرې کولو لپاره راغلي یو او بیرته ځو.

خو؛ عمر (رضي الله عنه) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو خو زما طبعیت سخت دی هسې نه جنګ را نه وشي بل دا چې زما خاندان کمزوری دی نشي کولای چې ما ته امن راکړي یا مې دفعاع وکړي او کیدای شی مخکې له دې چې زه ستا پیغام هغوی ته ورسوم زه مشکل سره مخ شم او لویه لانجه به درته جوړه کړم،

خو زه درته مناسب شخصیت ښایم چې د هغه لېږلو کې خیر دی د هغه طبعیت ارام دی برداشت لري قوم یې مضبوط دی او په خلکو کې ډیر زیات عزت لري،

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل، هغه څوک دی نو عمر (رضي الله عنه) ورته وویل هغه عثمان (رضي الله عنه) دی؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عثمان (رضي الله عنه) راوغوښتو ورته یې وویل، چې ته لاړ شه قریشو ته ووایه موږ جنګ ته نه یو راغلي موږ عمره کوو او بیرته ځو،

عثمان (رضي الله عنه) یې خبره ومنله او روان شو، لکه څنګه چې ذکر شوې وه د عثمان (رضي الله عنه) په زړه کې ډار او ویره بالکل نه وه؛ نو یوازې روان شو کله چې مکې اطرافو ته ورسیدو نو هلته په آسونو سواره جنګیالي تیار موجود وو او ټول ترې چاپیره شول، دغه ځای وادې (ملدح) نومیده.

نو دغه مسلح کسانو کې د عثمان (رضي الله عنه) د تره زوی (ابان بن سعید بن العاص بن امیه) هم موجود وو هغه چې خپل د تره ځوی عثمان (رضي الله عنه) ولیدو ټولو ته یې وویل، خبردار ما خپل تره ځوی ته امن او پناه ورکړه که هر څوک ورته نزدې شو خیر یې نشته؛ نو په دې طریقه عثمان (رضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عنه) مکې مکرمې ته داخل شو هلته یې مشرکین ولیدل چې ناست دي نو هغوی ورته وویل څنګه راغلی یې؟

عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل موږ عمرې ته راغلي یو اول تاسو ته اسلام وړاندې کوو چې تاسو ته خپل شکستونه خه معلم دي تاسو ضد مکوئ که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کامیاب شي او دا دین عزتمند شي تاسو به هم عزتمند شئ،
نو تاسو که عقلمند یې نو ځان له مشکل نه بچ کړئ، دا چې موږ ته اجازه زاکړئ چې عمره ادا کړو، هغوی ورته وویل، اسلام خو موږ نه قبلوو او نه چا ته د عمرې کولو اجازت ورکوو؛ خو که ته طواف یا عمره کوې ویې کړه،
عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل په الله (جل جلا له) قسم چې محمد (صلی الله علیه وسلم) طواف او عمره ونکړي زه به یې هېڅکله ونکړم،
له دې وروسته عثمان (رضي الله عنه) خصوصي ملاقاتونه شروع کړل مکه کې داسې خلک وو چې مسلمانان شوي وه خو اظهار یې نشو کولای هغوی ته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او نورو خپلوانو خبرونه نه رسیدل هغوی ته عثمان (رضي الله عنه) بیل بیل ورغلو، تسلي او ډاډګیرنه یې ورکړه او ورته یې وویل، لکه څنګه چې موږ حدیبې پورې راغلو، همداسې به انشاالله مکې ته هم راشو تاسو فکر مکوئ،
بل خوا هلته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او صحابه کرامو ته یو ځل داسې خبر ورسیدو چې عثمان (رضي الله عنه) طواف او عمره کړې نو صحابه کرامو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راجمع شول چې عثمان (رضي الله عنه) عمره کړې او دا یو قسم بې وفایي او ستا مخالفت دی.
نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته جواب کې وویل، تاسو بې فکره اوسئ زه چې څومره عثمان (رضي الله عنه) پېژنم نو فکر نه کوم چې زما نه بغیر دې هغه عمره کړې وي!
بل خوا عثمان (رضي الله عنه) د ضعیفو مسلمانانو په پوهولو او نورو ته پټ دعوت ورکولو کې وخت تیر کړ، بل خوا داسې اوازه خپره شوه چې مشرکینو عثمان (رضي الله عنه) شهید کړی نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټولو صحابه کرامو ته د بیعت کولو امر وکړ او له (۱۴۰۰) کسانو ټولو یې بیعت واخیست چې بیرته به نه واپس کیږو سره له دې چې وسلې ورسره کمې وې، فقط یو تن منافق چې (جد ابن قیس) نومیدو بیعت ونکړ.
تر ټولو اول د بیعت لاس رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ابو سنان عبد الله بن وهب الاسدي (رضي الله عنه) ته ورکړ بیا ټول راتلل او بیعت یې کولو چې دې بیعت ته بیعت رضوان وایي.
او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل ښی لاس په چپ لاس ووهلو او ویې ویل دا د عثمان (رضي الله عنه) بیعت شو، چې بیا الله (جل جلا له) آیاتونه نازل کړل چې الله (جل جلا له) د مهاجرینو او انصارو او ورسره کسانو څخه راضي شو.
له دې وروسته عثمان (رضي الله عنه) هم بیرته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ورسیدو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عثمان (رضي الله عنه) په ژوندي راتللو زیات خوشحاله شو بیا صحابه کرامو عثمان (رضي الله عنه) نه پوښتنه وکړه ایا تا طواف او عمره وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وويل، تاسو په ما بد گمان کړی زه به څنګه طواف کوم او تاسو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به ترې حصار شوي یاست !

د قریشو جاسوسانو نه چا قریشو ته خبر ورکړو چې مسلمانانو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره بیعت وکړ چې یا به مرګ وي او یا به عمره کوو، نو هغوی عروة بن مسعود تقفي مسلمانانو ته راولیږلو چې احوال یې معلوم کړي کله چې هغه بیرته ستون شو، هغوی ته یې وویل تاسو په دې خلکو بالکل برلاسي کیدای نشئ، ما د فارس او روم بادشاهان لیدلي خو هغوی کې دومره تابعداري نشته څومره تابعداري چې دوی کې ده، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اودس کوي او به یې صحابه کرام ځمکې ته نه پریږدي او په خپلو مخونو یې مښي.

چې خبرې کوي نو دوی داسې غوږ نیولي وي چې بالکل حرکت نه کوي، څوک په لوړ اواز یې مخکې خبرې نه کوي، نو د مسعود ثقفي خبرو مشرکین وارخطا کړل او د صلحې لپاره یې سهیل بن عمرو راولیږلو.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سیرت (۱۳) برخه:

**د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوب لیدل.**

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوب لیدلی وه چې مکه فتحه شوی وي او نوي عمره کوي نو ځکه یې د عمرې اراده وکړه، او په مدینه منوره کې یې نمیله بن عبدالله الیثي (رضي الله عنه) مشر وټاکلو په بل روایت کې عبدالله بن مکتوم (رضي الله عنه) مشر ټاکلی وو، کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) مکې ته راتلو نو لاره کې روان وو نو بشر بن سفیان مخې ته ورغې هغه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته وویل، چې خالد بن ولید چې لا مسلمان شوی نه وو درته لاره نیولې (۲۰۰) تنه په اسونو سپاره ځوانان ورسره دي نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لاره بدله کړه، او حمزه بن عمرو الاسلمي ورته بله لاره کې رهبري وکړه تر څو حدیبې ته ورسیدل لکه چې ذکر شول د حبابیشو د قوم مشر چې حلس نومیدو لارې ته راووتو چې کله یې ولیدل چې مسلمانانو خپلو اوښانو ته غاړه کې قلادې اچولي (قلادې یوه علامه وه چې معلومه شي چې دا هدیې لپاره دي) بیرته مکې ته لاړو هلته یې مشرکینو ته وویل مسلمانان په ډیر عزت او احترام راغلي او تاسو باید ورته اجازت ورکړی، نو مشرکینو ورته وویل ته یو غره وال یا اعرابي سړی یې ته په دې کارونو نه پوهیږې نو هغه پدې پېغور خپه شو قسم یې ورته وکړ چې ټول قوم به راټولوم او تر مرګه به درسره جنګیږم او د مسلمانانو ملګرتیا به کوم، بیا مشرکینو ورته وویل چې پام کوه داسې ونکړې.

بیا چې هغوی ته د مسلمانانو قوت معلوم شو او بیعت الرضوان نه هم خبر شول اول یې عروه بن مسعود ثقفي راولیږلو چې احوال معلوم کړه د هغه خبرې مونږ ته ذکر کړئ چې کوم صفات یې د مسلمانانو ذکر کړل نو بیا یې سهیل بن عمرو راولیږلو او هغه ته یې د معاهدې یا صلحې واک ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د صلحې د شرايطو متن ليک:**

۱- علي (رضي الله عنه) وليکل، بسم الله الرحمن الرحيم، نو سهيل وويل چې زه خو رحمن نه پېژنم داسې وليکه چې بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ، نو علي (رضي الله عنه) انکار وکړو، خو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وويل خير دی بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ، وليکه بيا چې دې کلمې ته ورسيدو چې (هذاماقاضى عليه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نو سهيل بيا وويل چې که موږ ستا نبوت منلی بيا صلحې ته کوم ضرورت وو ته وليکه چې محمد بن عبد الله نو د دې نه بيا علي (رضي الله عنه) انکار وکړ چې ما اوس رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ليکلی نه يې ورانوم، نو بيا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خپله ترې لرې کړ او هغه ټکی يې وران کړل بيا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل زه د الله (جل جلا له) رسول يم اگر که تاسو دروغجن گڼلی يم.

**معاهدې شرطونه:**

◆ که د قريشو نه څوک قريشي مسلمانانو ته ورشي نو مسلمانان به يې بېرته ورته سپاري او که مسلمانانو نه څوک هغوی ته ورشي هغوی به يې بيرته سپارلو ته نه مجبوروي.

◆هغه قبايل چې دې دواړو طرفونو کې چاسره هم ملگري شي بل طرف به تجاوز وربانديې نه کوي.

◆دغه صلحه لس کلونو لپاره ده او دغه لس کلونو کې به جنگ يو طرف هم نکوي.

◆مسلمانان به دې کال کې بيرته ستنيږي او بل کال ته به عمرې ته راځي.

◆دغه ليک به د مکې مکرمې په ديوال زړول کيږي تر څو چې ټول يې وويني.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، پورته شئ خپل څاروي حلال کړئ خو څوک او چت نشول بيا يې وويل پورته شئ حلاله وکړئ بيا څوک پورته نشول بيا يې دريم وار اواز وکړو بيا څوک پورته نه شول نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خپله پورته شو اوښ يې حلال کړو بيا يې نايې راوغوښتو وېښتان يې وخريل.

بيا ټول پورته شول او خپل خپل اوښان يې حلال کړل او د يو بل سرونه يې داسې وخريل چې له ډير خفگانه نژدې وه چې يو بل ووژني.

دا ځکه چې دغه شرطونه ظاهري ډير سخت معلوميدل چې که څوک مسلمان شي نو دوی به يې بيرته ورکوي او که څوک له مسلمانانو هغوی ته ورشي نو هغوی به يې نه واپس کوي.

خو د دې صلحې فايدې ډيرې زياتې وي.

(۱) مسلمانانو ته د مشرکينو له خوا نه اطمنان حاصل شو چې هغوی به حملې نه کوي نو ځکه مسلمانانو ته فرصت پيدا شو چې خپله پاملرنه فارس، روم، مصر او نورو ملکونو ته واوړي نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) هلته وفدونه ولېږل چې زياتې فايدې او لاسته راوړنې يې درلودې.

(۲) هغه قبايل چې مشرکينو سره يې معاهدې لرلې هغوی ته معلومه شوه چې مسلمانان مخ په کاميابۍ روان دي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې رابطې شروع کړې.

د مکې مشرکينو چې همدا مسلمانان يې له خپلو کورنو رايستلي وو او په هيڅ قوت ورته قايل نه وو نو په دې صلحې باندې خبره بيخي ښکاره شوه چې مسلمانان يو قوت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ته د غزوه موته لپاره هم ښه فرصت په لاس ورغي چې له دې خوا بېخي مطمئن شول چې قریش پرې حمله نشي کولای.
د بیعت الرضوان بله ګټه دا وه چې د صحابه کرامو ایمانونه هم معلوم شول چې تر مرګه یې بیعت وکړ.
بله فایده یې دا شوه چې الله (جل جلا له) د بیعت الرضوان والاوو څخه راضي شو.
په بخاري شریف کې د جابر ابن عبد الله (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي چې د ځمکې پر سر تر ټولو غوره خلک د بیعت الرضوان والا خلک دي.
په بل روایت کې صحیح مسلم شریف کې د جابر ابن عبد الله (رضي الله عنه) او هغه د حفصې رضی الله عنها نه روایت کړی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل او ما په خپلو غوږونو ترې اوریدلي چې د بیعت الرضوان صحابه (رضي الله عنهم) به جهنم ته لاړ نه شي.
له دې صلحې دا معلومه شوه چې صلحه به د اصلي دښمن سره کېږي نه د کمزوري دښمن سره، د دښمن کمزورې ډلې ټپلی به په ضمن کې داخلې وي لکه د عربو قبایل چې په دې کې داخل وو.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سیرت (۱۴) برخه:

### مکه مکرمه کې د عثمان (رضي الله عنه) ملاقاتونه

⇐ د ابو جندل (رضي الله عنه) او ابو بصیر (رضي الله عنه) تازه کوونکې واقعات.
کله چې عثمان (رضي الله عنه) مکې کې هغه مسلمانانو سره وکتل کوم چې کافرانو قسم قسم عذابونه ورکول خو هغوی هجرت نه شو کولای، هغوی کې یو تن اوبو جندل (رضي الله عنه) بن سهیل بن عمرو وو، سهیل بن عمرو هغه کافر مشر وو چې قریشو معاهدې یا صلحې لپاره رالېږلې وه، او ابو جندل (رضي الله عنه) یې ځوی وو کور کې یې په ځنځیرونو تړلی وه کله چې ابو جندل (رضي الله عنه) خبر شو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دلته د عمرې په نیت حدیبیه کې دی نو له کوره ولچکو او ځولنو سره وتښتېده، او دې ځای کې یې پلار د صلحې لیکل اخري پړاو ته رسیدلي وو فقط ګوتې لګول یا دسخط کول پاتې وو، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ابو جندل ولیدو چې په ډېر تکلیف یې ځان رارسولی دی او ټول بدن یې له وهلو ټکولو زخمي دی نو ډېر خفه شو؛ ځکه چې د صلحې شرطونه لیکل شوي وو.
سهیل بن عمرو چې کله خپل ځوان ځوی ولیدو؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې وویل ما ته خپل ځوی بیرته په لاس راکړه، کنه نو زه دغه صلحه نکوم.
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل ګوره تر اوسه په کاغذ مهر او دسخط نه دی شوی، فقط لیکل شوي ته ما ته دا خپل ځوی هدیه کې راکړه.
تا خپل ځوی ته قسم قسم عذابونه ورکړې، خو هغه اسلام پرې نښود، لاکن سهیل بن عمرو و نه منله او ټینګ شو چې که ماته خپل ځوی و نه سپارې زه بیرته ځم اخر کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ومنله او لیک یې دسخط کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوجندل (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته وویل، یا رسول الله تاسو ما په لاس مه ورکوئ تاسو ګورئ چې دوی په ما څومره ظلمونه کړي زما دغه پلار ما په فتنه کې اچوي ما به له اسلامه وګرځوي.

خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل ای: جندله صبر وکړه، الله (جل جلاله) به تاسو ته لاره جوړه کړي لږ نور هم تکلیف تیر کړه الله (جل جلاله) به خامخا تا ته لاره جوړه کړي که زه اوس تا دلته حصار کړم زه به وعده خلاف شم او زه وعده خلافي نکوم.

له یوې خوا صلحه وشوه او ابوجندل په ژړا او واویلا خپل پلار ته په لاس ورکړل شو، له بلې خوا صحابه کرام له دیرې غوصې ناقراره وو له حلالې او سر خریلو وروسته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته د بیرته مدینې منورې ته د تللو امر وکړ.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مدینې ته ورسیدو نو اول مسجد ته لاړو لږ وخت نه وو تیر شوی، چې ابو بصیر بن عتبه بن اسید (رضي الله عنه) راورسیدو او دغه لوی سفر یې پښې ابله په لوږه تنده تر سره کړی وو، ټول بدن یې زخمي وه کافرانو هر قسم عذابونه ورکړي وو.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم ستومانه وو خو د ابوبصیر (رضي الله عنه) ورتګ نور هم پریشانه کړ، لږ وخت نه و تیر شوی چې دوه تنه ځوانان مسجد طرف ته په منډه راغلل؛ کله چې یې په ابوبصیر سترګې ولږیدې نو چغې یې کړې چې ای محمد (صلی الله علیه وسلم) موږ ته ابوبصیر په لاس راکړه وعده خلافي مکوه او د صلحې شرطونه پوره کړه.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ابوبصیر (رضي الله عنه) ته وفرمایل لاړ شه ورسره موږ دوکه او وعده خلافي نه شو کولای، ابو بصیر (رضي الله عنه) ورته وویل یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ما مه ورته سپاره ما ته یو څو تکړه ځوانان راکړه زه مکه مکرمه درته فتحه کوم، نورو صحابه کرامو یو بل ته وکتل او ویې ویل قسم دی دغه ځوان ډیر بهادر انسان دی که اجازه ورکول شي هر کار کولی شي خو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د امر منل ضروري وو، ځکه چې په دغسې کارونو او د هغې په حکمتونو بل څوک نه پوهېدل.

ابوبصیر (رضي الله عنه) هغه کسانو له خپلو ځانونو سره روان کړ څو منزله وړاندې هغوی دواړو خوراک لپاره کیناستل لږ وخت بعد یو تن سحراګشت یا لویو بولو ته لاړو او یو تن پاتې شو هغه سره ډیره تیره توره وه او هغه یې لاس کې اړوله راړوله، ویل یې چې دغه توره زبردسته توره ده ستا په شان ډیرو باندې ما تجربه کړې چې د اوس او خزرج قبیلو تکړه ځوانان وي او زما ورسره مقابله وي او تړې داسې سرونه غوځوم.

ابو بصیر (رضي الله عنه) ورته وویل، چې توره خو دې ما ته هم ډیره زبردسته ښکاري ته راکه چې ویې ګورم، هغه مغروره ځوان چې په خپل طاقت ډیر نازیده، توره یې ورکړه کله چې توره ابوبصیر (رضي الله عنه) لاس ته ورغله نو په یو شړق سره یې سر له تنې جدا کړ او هیسته یې تړې وغورزاوه او دې حالت کې هغه بل هم راروان وو هغه چې کله د خپل ملګري سر ولیدو چې له تنې جدا دی نو مخ په مدینه منوره یې منډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کافر مخکې دی او ابوبصیر (رضي الله عنه) ورپسې دی هغه ځوان په مسجد نبوی (صلی الله علیه وسلم) ورننوتلو او چغې یې وهلې بچ مې کړئ، دې وخت کې ابوبصیر (رضي الله عنه) هم ورپسې ورسیدلو او له مخ مبارک او سترګو یې د غوصې نه اور وریدو، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې وویل، یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تا خپله وعده پوره کړه زه دی په لاس ورکړم اوس ته مکلف نه یې چې بیرته مې ولېږې او ما ته اوس دغه کافر راکړه چې سر یې له تنې جدا کړم.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل دغه کس موږ ته پناه راوړه اګر که دښمن هم دی موږ پناه ورکړې ته یې نشې وژلی او ته باید له دې ځایه لاړ شې ځکه موږ د صلحې تر اخره په خپله وعده ټینګ ولاړ یو.

ابو بصیر (رضي الله عنه) له هغه ځایه ووتو او له ډیر فکر او سوچ وروسته یې د سمندر غاړې ته د تللو فیصله وکړه هغه ځای ډیر لرې وو خو په دې خاطر چې هلته به له لوږې مړ نشي یوشی به ورته پیدا کیږي چې تر هغې وربا ندې ژوند تیر کړي چې مسلمانان کامیابیږي.

کله چې ابوبصیر د سمندر غاړې ته ورسیدو نو فکر یې وکړو، چې دغې زبردستې تورې نه باید کار واخلې، نو په هغه لار به اکثره د قریشو قافلې شام ته تللې او بیرته به یې تجارتي مال راوړلو نو ابوبصیر (رضي الله عنه) به هره قافله لوټ کوله کافران به یا وتښتیدل یا به یې مړه کړل او خوراکي شیان یې مکمل په قریشو بند کړل له بلې خوا ابوجندل (رضي الله عنه) خپل پلار سهیل بیا تړلی وو چا ورته وویل چې ابوبصیر (رضي الله عنه) د سمندر غاړې ته لاړ دی او هلته یې د قریشو د قافلو لار نیولې، ابوجندل (رضي الله عنه) بیا هم په کومه طریقه ځان خلاص کړو او د شپې ووتلو تر څو چې یې پلار خبریدو نو هغه ابوبصیر (رضي الله عنه) ته ځان رسولی وو، کله چې یې ابوجندل (رضي الله عنه) ولیدو کلک یې په غیږ کې ونیولو او ډیر زیات خوشحاله شو، چې ملګری یې پیدا شو.

اوس نو دوی دوه تنه زمریان سره یو ځای شول، دواړه هغه بهادر ځوانان وو د ټولې قافلې خلکو ورسره مقابله نه شوه کولای.

دغه خبره د مکې مکرمې نورو ځوانانو ته هم معلومه شوه او نور خلک هم ورسره یو ځای شول تر (۷۰) یا (۸۰) د دې ځوانانو تعداد ورسیدو، له یوې خوا دغه خبره رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته هم معلومه شوه چې ابوبصیر او ابوجندل او نور صحابه کرام اوس په یوه مظبوط قوت بدل شوي، هغوی د مکې خلکو باندې خوراکي توکي بند کړي او د مکې مشرکین په چغو دي نو ډیر زیات خوشحاله شو چې یوې خوا صلحه په خپل ځای پاتې شوه او له بلې خوا مسلمانانو ته قوت پیدا شو.

نو همدې وخت کې د مکې مکرمې مشرکینو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته لیک راولېږلو چې موږ ته د دغه کسانو ضرورت نشته موږ خو یې برباد کړو څوک یې مړه کړل څوک راوتښتیدل او مال یې را نه واخیستو ته دې خپل مسلمانان دروغواړه که هر څوک تا ته درځي درځي دې خو چې موږ یې له شره خلاص شو.

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپلو ملګرو ابوبصیر او ابوجندل رضی الله عنهم او نورو ته لیک ولیږلو چې راشئ تاسو د صلحې د شرطونو نه مستثنی شوي یاستئ، کله چې هغوی ته دا لیک ور ورسیدو او لیک ابوبصیر (رضي الله عنه) په لاس کې وو او لوستو یې چې مرګ ته یې لبیک وویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وفات شو ( وإِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعون پیا جندل (رضي الله عنه) هلته خاورو ته وسپارلو او خپله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغي چې د مکې مکرمې فتحه کې هم شریک شو نورو ډیرو غزاګانو کې هم شریک شو او اخر کې اردن، لبنان کې شهید شو، إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعون.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۵) برخه:

### د عثمان (رضي الله عنه) سخاوت.

➡ ابن عباس (رضي الله عنه) نه روایت دی چې یوه ورځ عثمان (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته دعوت ورکړ، چې ډوډئ ورسره وخوري؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې دعوت قبول کړ او ورسره روان شو؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وړاندې او عثمان (رضي الله عنه) ورپسې وروسته روان شو کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بیرته شا طرف ته راوکتل نو ګوري چې عثمان (رضي الله عنه) یې قدمونه مبارک شماري؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته مسکی شو چې قدمونه څنګه شماري؟ خو عثمان (رضي الله عنه) څه و نه ویل، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عثمان (رضي الله عنه) کور ته ورسیدو نو امر یې وکړ چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د قدمونو د شمار برابر غلامان ازاد کړئ، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عثمان (رضي الله عنه) په دومره زیات محبت ډیر زیات خوشحاله شو.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایې تر هغې تاسو کامل مومن کیدای نشئ چې تر څو زه درته د ځان، مال، مور او پلار نه زیات محبوب نشم.

➡ جابر ابن عبد الله (رضي الله عنه) فرمایي چې عثمان (رضي الله عنه) ته له بهر نه تجارتي مال کې شهد او نور خوراکي شیان راغلل هغه به یې په خلکو تقسیم کړل او خپله به کور ته لاړو او سرکې سره به یې د وربشو ډوډی خوړله.

➡ په یو بل روایت له جابر ابن عبد الله (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې یوه ورځ عثمان (رضي الله عنه) د سفر په حالت کې خپله پیاده روان وو او غلام یې په اوښ سپور کړی وه نو ما ورته وویل ای امیرالمؤمنینه تا خو غلام په اوښ سپور کړی او تا د اوښ مهار نیولی نو ویې فرمایل، مسلمانان ټول یو شان دي یو په بل بهتري په تقوی کې لري او دا هم زما په شان انسان دی نو چې زه ستومانه کیږم دا هم ستومانه کیږي.

➡ عبد الله ابن عباس فرمایي چې ما د جمعې په ورځ عثمان (رضي الله عنه) ولیدو چې مسجد کې پوزي باندې اوده وو بیا راپورته شو اودس یې وکړو او په ممبر یې خطبه وویله او د پوزي نښانونه یې په بدن معلومیدل.

➡ یو بل حدیث شریف د ابونعیم نه روایت دی، چې عثمان (رضي الله عنه) سفر نه راغی او چې کله راورسیدو نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل دا اوښ دې چو کړه یا کینوه، عثمان (رضي الله عنه) اوښ کینولو نو هغې باندې غوړي او شهد بار وو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـرې لـرې وخـوړل او دعـا يـې ورتـه وکـړه نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) ورتـه وفرمايـل چـې مـا دغـه ټـول خيـرات کـړل ځکـه چـې پـه کـوم شـي بانـدې سـتا مبـارک لاس ولګيـږي نـو د هغـې قيمـت څـوک نشـي پـوره کـولای نـو ځکه اوس دا د الله (جل جلا له) په لاره کې تقسيم کړه

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان (رضي الله عنه) سيرت (۱۶) برخه:

**◄ د عثمان (رضي الله عنه) د سخاوت بله بېلګه:**

**◄ په عثمان رضي الله عنه د جنت زيری.**

◄ عثمان رضی الله عنه د خپل بدن د صفايې زيات خيال ساتل.

د مـدينې لارو کوڅـو کـې سـوالګر ګرزيـدو خـو لـه غريبـی. چـا ورسـره کومـک نشـو کـولای نـو چـا ورتـه د عثمـان (رضـي الله عنـه) کـور وښـوده، سـوالګر د عثمـان (رضـي الله عنـه) کـور تـه راغـی کلـه چـې يـې غوښـتل دروازه وټکـوي د کـور لـه دننـه څخـه اواز راغـی، چـې خپلـې بـي بـي تـه وايـی، چـې د ډيـوي پلتـه يـا بـاتی. غټـه يـا ډبلـه ده تيـل زيـات سـوځوي دا پلتـه نـرئ کـړه، نـو سـوالګر حيـران شـو چـې دا خـو دومـره بخيـل سـړی دی چـې د ډيـوې پلتـه هـم نـری کـول غـواړي نـو مـا تـه بـه څـه راکـړي خـو بلـه چـاره نـه وه؛ نـو اخـر يـې لـه سـوچ او فکـر وروسـته دروازه وټکولـه نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) راووتـو سـوالګر بيـه ډيـر مشـکلات او ضـرورتونه ورتـه بيـان کـړل نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) چـې کـور کـې دومـره څـه نلـرل نـو لـه لاسـه يـې ونيولـو او ورتـه يـې وويـل راځـه نـو سـوالګر ورسـره روان شـو کلـه چـې د مـدينې منـورې ابـادی. پـه ختميـدو شـوه سـوالګر ودريـدو ورتـه يـې وويـل تـه مـا چيرتـه بيـايې؟ خلـک خيـرات ورکولـو لپـاره کـور تـه ځـي او تـه مـا اوس د مدينې نه بهر بيايې.

عثمـان (رضـي الله عنـه) ورتـه وويـل مـه ويريـږه سـتا د ضـرورتونو سـامان زمـا کـور کـې نـه وو ځکـه مـې دلتـه راوسـتې، کلـه چـې دواړه د مـدينې منـورې نـه بهـر را ووتـل نـو هلتـه د عثمـان (رضـي الله عنـه) د تجـارت قافله رارسيدلې وه نو عثمان (رضي الله عنه) هغه سوالګر ته وويل واخله دا شيان ټول ستا شول.

سـوالګر حيـران ودريـد او يقـين يـې نـه راتلـو چـې د ډيـوې پلتـه نـری. کولـو والا دې دومـره سـخي وي چـې دومـره شـيان دې ورکـړي؛ نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) تـه يـې وويـل، تـه مـا پـورې ټـوقې مکـوه کـه کـوم شـی دی له زړه نه منلی وي راېې کړه کنه نو زه په خپله مخه ځم.

عثمـان (رضـي الله عنـه) ورتـه وويـل، زه ټـوقی نکـوم دا شـيان ټـول سـتا شـول او خپلـو غلامـانو تـه يـې وويل دا سامان ټول ورکړئ.

کلـه چـې د سـوالګر پـوخ يقـين وشـو چـې رښـتيا وايـې نـو ورتـه يـې وويـل زه دغـه ټـول سـامان نـه اخلـم دا زمـا لـه ضـرورتونو زيـات دي زه لـه مجبوريتـه سـوال تـه اړ شـوی يـم؛ نـو ماتـه دومـره څـه راکـړه چـې ضـرورت ورته لرم.

عثمـان (رضـي الله عنـه) لاسـونه پورتـه کـړل دعـا يـې وکـړه چـې يـا الله (جـل جـلا لـه) شـکر دی چـې دغـه سـامان د دې سـوالګر لـه ضـرورته زيـات دی کـه چيرتـه تـرې کـم وی، نـو نااميـده بـه لاړ وو بيـا يـې سـوالګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وويل دا سامان که ستا له ضروریاتو زیات وي خه خبره ده خو چې کم نه وي او سامان یې ورته وسپارلو.

نو سوالګر ترې پوښتنه وکړه چې اوس دا راته ووایه چې تا خپلې بې بې ته وویل چې د ډیوې پلته نرۍ کړه او اوس دومره سخاوت کوې، دې که څه راز دی؟ نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل هلته ماسره دا فکر وو چې زه اسراف کوونکو کې رانشم ځکه چې الله (جل جلاله) اسراف کوونکی د شیطانانو ورونه بللي او دلته خبره د الله (جل جلاله) سره ده دا صدقه چې څومره ډېره وي ثواب یې ډېر وي نو بیا سوالګر ښې ډېرې دعاوې ورته وکړې او له سامان سره ترې رخصت شو.

ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) فرمایي، چې یوه ورځ زه او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو باغ ته داخل شو او ما ته یې وویل چې ته دروازه ساته چې څوک بې اجازې رانشي.

د صحابه کرامو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره دومره مینه وه چې لږ وخت به ترې غایب شو نو ورپسې کرځیدل به نو عمر (رضي الله عنه)، ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) او عثمان (رضي الله عنه) بیل بیل ورپسې راوتلي وو او پوښتنې به یې کولې نو ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) ته چا ویلي وو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دغه طرف لاړو؛ نو هغه باغ طرفته راغي دروازه یې وټکوله؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ما ته وفرمایل ورشه دروازه ورته خلاصه کړه او د جنت زیری پرې وکړه.

نو ما چې دروازه خلاصه کړه نو ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) وو، نو زیری مې ورباندې وکړو چې ډېر زیات خوشحاله شو بیا لږ وروسته بل چا دروازه وټکوله بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وفرمایل ورشه دروازه ورته خلاصه کړه او د جنت زیری پرې وکړه نو ما چې دروازه خلاصه کړه نو هغه عمر (رضي الله عنه) وو، نو زیری مې پرې وکړو چې عمر (رضي الله عنه) هم ډېر زیات خوشحاله شو بیا لږ وروسته بل چا دروازه وټکوله بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وفرمایل ورشه دروازه ورته خلاصه کړه او د جنت زیری پرې وکړه. نو ما چې دروازه خلاصه کړه هغه عثمان (رضي الله عنه) وو او زیری مې پرې وکړو چې عثمان (رضي الله عنه) هم بیخي زیات خوشحاله شو.

د عثمان (رضي الله عنه) بې بې مبارکې نه چې نوم یې احادیثو نه دی ذکر کړی روایت کړیدی چې عثمان (رضي الله عنه) به د خپل بدن د صفایې ډېر خیال ساتلو او هر ورځ به یې غسل کولو تر څو یې بدن صاف ستره وي عطر او رانجه به یې زیات خوښول.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۱۷) برخه:

⇐ د ابوهریره (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل، دا سې زمانه به راشي چې اختلافونه او فتنې به زیاتې شي او زما د امت زیات خلک به ورباندې اخته شي نو مور ورته وویل چې یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نو بیا مور ته څه کول پکار دي؟ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عثمان (رضي الله عنه) طرف ته اشاره وکړه چې د امیر او ملګرو لاره یې تعقیب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇐ د ام کلثوم (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې عثمان (رضي الله عنه) به د شپې تهجد و ته پورته کیدو او موږ به ورته ویل، یا ما را پاڅوه یا کوم غلام چې د اوداسه او به درکوو نو عثمان (رضي الله عنه) به فرمایل چې زما زړه نه غواړي چې څوک له خوبه پاڅوم بیا به یې دوه رکعته لمونځ کې ټول قران کریم ختم کړ.

بیا عطا بن رباح (رضي الله عنه) فرمایي چې کله کله به عثمان (رضي الله عنه) د ماسختن لمونځ امامت وکړ، چې کله به فارغ شو نو یو طرف ته به یې نفل شروع کړل تر هغې چې ټول قران کریم به یې اخر په وترو کې ختم کړو.

مشکوة المصابیح د صحیحنو روایت نقل کړی چې عثمان (رضي الله عنه) به کله د چا جنازې ته حاضر شو او بیا به قبر ته ورسره لاړو نو بیا به د قبر په غاړه ودریدو او زیات به یې وژړل تر هغې چې د وعظ کولو توان به یې نه وو.

نو صحابه کرامو ترینه پوښتنه وکړه چې یا امیرالمؤمنین ته بل وخت کې دومره نه ژاړې لکه د قبر په غاړه دا ولی؟

نو عثمان (رضي الله عنه) وفرمایل، چې قبر د اخرت اولنی منزل دی که څوک دې کې کامیاب شو نو وړاندې به هم کامیاب شي او که دلته په سوال جواب کې څوک ناکام شو نو اخرت کې به هم ناکام وي.

د عثمان (رضي الله عنه) نه روایت دی چې زه په مسجد نبوي (صلی الله علیه وسلم) په باب السلام باندې ننوتم او له لمونځ وروسته به باب جبرائیل (ع) باندې وتلم، یوه ورځ مې لرې بیره وه نو باب جبرائیل (ع) باندې وتلم چې د خلکو د راننوتلو له وجې ګڼه ګوڼه جوړه شوه نو ګورم چې یو یمني ځوان توره په لاس کې نیولې او چې زه یې ولیدم نو توره یې راته پورته کړه چې ومې وهي، ما یې لاس ونیوه ما وویل څه کوې نو هغه وویل وژنم دی، نه دې پرېږدم؛ نو ما ورته وویل ولې مې وژنې؟

نو هغه یمني ځوان راته وویل ځکه دې وژنم چې د یمن امیر ظلم راباندې کړی!

عثمان (رضي الله عنه) فرمایي، ما ورته وویل ظلم په یمن کې درباندې شوی او ما دلته مدینه کې وژنې؟ نو هغه یمني ځوان وویل، هو. ځکه چې هغه امیر یا والي تا مقرر کړی ته یې مسؤول یې ولې داسې خلک مقرروې چې ظلم کوي، عثمان (رضي الله عنه) وایي ما ورته وویل خبره دې صحیح ده؛ خو تا ما ته کله شکایت کړی او ما ستا شکایت نه دی اوریدلی او تاسره مې عدالت نه وي کړی.

په کار خو داوه چې تا شکایت کړی وی که ستا خبره ربښتیا وي ما به هغه معزول یا لرې کړی وای او ستا انتقام به مې ترې اخیستی وای، خو ستا دغه حرکت چې بې سواله او بې جوابه ما وژنې مناسب نه دی.

نو صحابه کرامو راته وویل یا امیرالمؤمنین دا کم عقل دښمن دی دا همداسې پرېښودل نه دي پکار؛ نو عثمان (رضي الله عنه) فرمایي چې ما بیا هغوی ته وویل چې څوک شته چې دغه ځوان وپیژني او ضمانت یې وکړي چې بیا به مدینې ته نه داخلېږي نو یو خپلوان یې راپیدا شو او هغه یې ضمانت وکړ او ما خوشې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لـه دي چې زه وربانـدې پـوه شـوم چې دغـه ځـوان درواغ ويـل او فقـط زمـا د وژلـو لپـاره دسـتوري راغلی وه؛ خو الله (جل جلا له) ماته طاقت راکړو چې ويې نيسم خو دغه دښمن ما معاف کړ.

يـو روايـت کـې ذکـر دي•، چـې عثمـان (رضـي الله عنـه) تـه يـوه ښـځه راتلـه او خپـل ضـروريات بـه يـې ورتـه ويـل او عثمـان (رضـي الله عنـه) بـه کومـک ورسـره کولـو خـو يـو څـه وخـت نادرکـه شـوه نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) يـې پوښـتنه وکـړه چـې هغـه ښـځه ډيـر وخـت وشـو چـې نـه ده راغلـی نـو چـا ورتـه وويـل چـې د هغـې بچـی پيـدا شـوی او ناروغـه ده نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) ورتـه د بچـي لپـاره جـامې او نـور لبـاس ورولېـږل او (۵۰) دينـاره يـې ورتـه د مياشـتې مقـرر کـړل بيـا چـې د ماشـوم عمـر يـو کـال شـو نـو دغـه روپـۍ يـې (۱۰۰) ديناره کړې.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۱۸) برخه:

**د ساحر وژل:**

**په اخيستو او خرڅولو کې اسانتياوې.**

**د مرتد حکم او څوک په مرتدانو کې راځي؟**

◆ البدايـه وانهايـه حيـاة عثمـان (رضـي الله عنـه) کـې ذکـر کـړي چـې عثمـان (رضـي الله عنـه) تـه يـو سـړی راغلـو ورتـه يـې وويـل، زمـا يـو دوسـت يـوې ښـځې سـره ډيـر پـه مينـه واده کـړی وو يـو بـل بانـدې ډيـر ګـران وو اوس يـې تـر مـنځ شـخړه راغلـې او ځمـا دوسـت خپلـې ښـځې تـه طـلاق ورکـړی اوس وربانـدې پښـيمانه دی او دواړه ژاړي او يـو لـه بلـه جـدا يې نشـي زغمـلای؛ نـو زه غـواړم چـې د خپـل دوسـت دغـه ښـځې سـره نکاح وکړم او بيا يې د دخول يا جماع کولو وروسته طلاقه کړم.

تر څو يې زما دوست بيا په نکاح کړي نو ستا څنګه خوښه ده؟

نـو عثمـان (رضـي الله عنـه) ورتـه وويـل دغسـې نکـاح پـه اسـلام کـې نشـته او رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) ترينـه منـع فرمـايلی ده او فرمـايلي يـې دي، چـې دغسـې نکـاح کـوونکی بانـدې د الله (جـل جـلا لـه) لعنت دی پام کوه چې دغسې يو کار رواج نکړې چې تر قيامته به يې ګناه ستا په غاړه وي.

سـتا دوسـت او د ده پـه شـان نـور خلـک بايـد د طـلاق مسـئله ښـوقی و نـه ګڼـي او لـه داسـې الفاضـو ځـان وساتئ چې بيا په ناخبرئ کې د خپلې حلالې ښځې سره په دايمي زنا لګيايي.

◆ عبـد الرحمن ابـن زيـد (رضـي الله عنـه) فرمـايي چـې ام المـؤمنين حفصـې رضـي الله عنهـا بانـدې يـوې ښـځې چـې سـاحره وه سـحرکړی وو او ډيـره يـې پـه تکليـف کـړې وه نـو مـا هغـه ونيولـه او هغـې اقـرار وکـړ چـې زه سـاحره يـم؛ نـو مـا ورتـه د سـحر ګنـاه بيـان کـړه چـې سـحر کفـر دی او سـاحر کـافر دی توبـه تـرې وباسـه او ام المـؤمنين حفصـه (رضـي الله عنـه) لـه سـحره خلاصـه کـړه، خـو هغـې انکـار وکـړو نـو مـا ووژلـه کلـه چـې عثمـان (رضـي الله عنـه) خبـر شـو نـو ډيـر پـه غصـه شـو عبـد الله ابـن عمـر (رضـي الله عنـه) ورتـه وويـل، تـه پـه داسـې يـو چـا بانـدې خفـه يـې چـې رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) يـې وژل روا ګڼلـي او يـو حـديث يـې

• الدايه و النهايه حياة عثمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ذکر کړو نو عثمان (رضي الله عنه) چوپ شو او هيڅ يې و نه ويل، ځکه چې تر دې وخته دغه حديث ورته نه وو رسيدلی او بيا يې په همدې حديث باندې د عمل کولو فرمان وليکلو چې که ساحر توبه و نه باسي وژل يې روا دي.

◆ عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې ما له يو تن نه ځمکه واخيستله او ځمکه مې تر خپل تصرف لاندې راوستله او د ځمکې د مالک لږ څه روپۍ پاتې شوې وې، ما انتظار کولو چې هغه سړی روپيو پسې راشي خو هغه ډيرې ورځې رانغې بيا يوه ورځ په لاره کې راسره مخ شو نو ما ورته وويل ته خپلو روپيو پسې ولی رانغلې؟

نو هغه راته وويل، چې تا زما سره غدر يا دوکه کړې او زه دې غولولی يم، عثمان (رضي الله عنه) فرمايي ما ورته وويل، ما خو تا ته ستا د خوښې قيمت درکړی نو څنګه مې دوکه کړې يې؟

نو هغه سړي راته وويل، کله چې ما تا باندې ځمکه خرڅه کړه هغې وخت کې زه راضي وم خو لږ وخت وروسته ډيرو خلکو راته وويل چې ارزانه دې خرڅه کړې؛ نو ځکه زه هم پښېمانه يم نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وويل، سره له دې چې ځمکه زما تصرف کې راغلې ده او تا په خپله خوښه را باندې خرڅه کړې؛ خو ما له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) نه اوريدلي چې په اخيستلو او خرڅولو کې اساني کوونکی به جنت ته ځي نو ستا خوښه ده چې خپلې روپۍ اخلې يا ځمکه او يا لوړ قيمت اخلې؟ نو هغه سړي خپله ځمکه واخيسته او ما ته يې ورکړل شوې روپۍ بيرته راکړې.

◆ د عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه) نه روايت دي چې د مسيليمه کذاب وخت کې بعضي خلکو ايمان پرېښود نو ما عثمان (رضي الله عنه) ته خبر ورکړو چې زه دغسې خلکو سره څه وکړم؟

نو عثمان (رضي الله عنه) راته ليک راولېږلو چې دوی ته اسلام وړاندې کړه که بيرته يې اسلام ومنلو نو معاف يې کړه او که په کفر ولاړ وو نو قتل يې کړه ځکه چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي هر هغه چا چې د کافر صف مضبوط کړ او په دې هم پوهېدلو چې کافر ظالم دی يا يې د کافر حمايت کولو نو وژل يې روادي او مسيليمه کذاب تر ټولو اشد کافر دی؛ نو، عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه) فرمايي، ما همداسې وکړل څوک چې بيرته اسلام ته راوګرځيدل هغو مې معاف کړل او چې څوک په ارتداد او کفر ټينګ پاتې شول ټول مې ووژل••.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۱۹) برخه:

### د دين فکر او کرامات.

عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د وفات نه وروسته زه غمجن او فکرمند لاره کې ناست وم، چې عمر (رضي الله عنه) را باندې سلام اچولی وو او زه نه وم پوه شوی بيا عمر (رضي الله عنه) ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته شکايت وکړو چې عثمان زما د سلام جواب رانکړ.

•• البدايه والنهايه باب خليفة عثمان، حياة حياة الصحابه جلد 2، اسد الغابه جلد 4.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زه مسجد ته لاړم نو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) راته وويل، ولې دې د خپل ورور عمر (رضي الله عنه) د سلام جواب نه دی ورکړی، په څه شي ترې خفه يې؟ نو ورته مې وويل، ما نه ليدلی او نه پرې پوهه شوی يم؛ نو ابوبکر (رضي الله عنه) وفرمايل ته صحيح خبره کوې؛ خو زما په فکر ته به په کوم سوچ او فکر کې ډوب وې، نو ما ورته وويل هو په الله (جل جلاله) قسم چې همداسې وه ابوبکر صديق (رضي الله عنه) راته وويل هغه څه سوچ او فکر وو چې ته يې دومره پريشانه کړی وې، نو؛ ما ورته وويل، چې د دې امت د نجات او خلاصئ لار په فکر کې وم، نو ابوبکر (رضي الله عنه) راته وويل، چې ما سره هم دا فکر وو خو ما له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) نه پوښتنه وکړه هغه راته وويل چې د امت د نجات لاره په قران او سنت کې ده بايد تر ټولو اول همدا راونيسئ؛ نو عثمان (رضي الله عنه) فرمايي زه ور پورته شوم او د ابوبکر (رضي الله عنه) تندی مې ښکل کړ ما ورته وويل، چې ته د دې اهل يې چې ترې پوښتنه وکړې.

◆ ماوردي د عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) نه روايت کړی چې عثمان (رضي الله عنه) د جمعې خطبه ويله او لاس کې يې امسا وه چې د جهجاه په نوم يو تن ورپورته شو او امسا يې ترې واخيسته او ماته يې کړه؛ خو عثمان (رضي الله عنه) هېڅ و نه ويل او نه يې خطبه قطع کړه او نه بل چا د خطبې د اوريدلو په وجه څه وويل، عثمان (رضي الله عنه) يوه ګوته پورته کړه او څه اشاره يې وکړه او بيا يې له خطبې نه وروسته هم څه و نه ويل، بيا لږ وخت بعد موږ وليدل چې د جهجاه په لاس دانه راختلې بيخي زياتې چغې او فرياد ترې کوي تر هغې چې له هماغه دانې مړ شو نو ټولو به ويل چې دا د عثمان (رضي الله عنه) د ښيرا و له امله داسې شو.

◆ په يو روايت کې طبقات الکبری ليکلي چې عثمان (رضي الله عنه) يوه ورځ خپل غلام ته وويل ما يوه ورځ ستا غوږ کش کړی وو ته راشه او زما غوږ ونيسه او کش يې کړه نو هغه ورته وويل چې ما بښلی يې نه يې کش کوم خو عثمان (رضي الله عنه) ورسره نه منله تر هغې چې غلام يې مجبور کړ، چې غوږ نه يې ونيسي نو چې کله يې له غوږه ونيولو لږ يې کش کړ زړه يې نه غوښتل چې ډير يې کش کړي او عثمان (رضي الله عنه) به ورته ويل ښه پوره يې کش کړه چې د قيامت په ورځ در څخه خلاص شم.

◆ تاج البستکي طبقات الکبری کې ليکلي چې يو سړی عثمان (رضي الله عنه) ته راغلو او نور صحابه کرام هم ورسره ناست وو هغه وويل، چې يو سړی به دلته راشي چې هغه په لاره کې يوې زنانه سره بد کاري کړې وي نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وفرمايل، چې يو سړی به دلته راشي چې د سترګو به يې د زنا نښې او نښانې معلومېږي؛ نو هغه سړي ورته وويل، ولې له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) نه بعد هم وحې نازله شوه چې تا ته يې په سترګو کې د زنا نښې ښکاري؛ نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وفرمايل دا وحې نه ده تجربه او کرامت دی چې الله (جل جلاله) يې چا ته ورنصيب کړي زه زنا کار پېژنم او ما ته يې په سترګو کې نښې نښانې معلومېږي، نو هغه سړی چې په خپل ځان پوی شو نو چوپ شو نور يې کومه خبره ونکړه.

◆ محمد بن عبد الله ابن موسی خفاف فرمايي، چې موږ شام ته لاړو نو موږ يو سړی وليدو چې پرمخې پروت دی او پښې يې د پنډيو سره او لاسونه يې د اوګو سره پرې شوي دي او په سترګو ړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او چغې وهي های د دوزخ اوره های د دوزخ اوره هلاک شوم تباه شوم برباد شوم جهنمي شوم؛ نو موږ ترې پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ چا درسره داسې کار وکړ، نو هغه وویل چې کله عثمان (رضي الله عنه) محاصره شو او د هغه کور ته خلک ننوتل نو زه هم په هغې خلکو کې وم نو موږ چې د هغه کوټې ته داخل شو؛ نو د هغه بي بي هلته وه هغه له کوټې راووتله او ماته مخې ته راغله ما هغه په څپېړه ووهله او عثمان (رضي الله عنه) زه ولیدم او هغه راته ښیراوې وکړې، چې د پښو، لاسو او سترګو خلاص شې او جهنم دې ځای شه نو زه فوراً له هغه ځایه راووتلم دلته شام ته راغلم دلته څوک وه زه پرې پوی نه شوم راغی او زما لاسونه یې په اوږو کې، او پښې له پنډیو سره پرې کړل او سترګې یې را نه و ویستلې اوس فقط د جهنم لاره راته پاتې ده او بس•.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عثمان رضي الله عنه د سیرت (۲۰) برخه:

**د عثمان رضي الله عنه د شهادت اسباب او د جنت زیری.**

◆ یو ورځ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په جبل احد ولاړ وو چې دغه غر په خوځیدو شو نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل ودریږه تا باندې یو نبي (صلی الله علیه وسلم)، بل صدیق او دوه شهیدان ولاړ دي نو غر ودریدو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ابوبکر (رضي الله عنه)، عمر (رضي الله عنه) او عثمان (رضي الله عنه) وو.

◆ د ابوموسی الاشعري (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زما سره په یو باغ کې وه نو چا دروازه وټکوله نو زسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وفرمایل چې دروازه ورته خلاصه کړه او د جنت او شهادت زیری ورکړه نو کله چې ما دروازه خلاصه کړه نو هغه عثمان (رضي الله عنه) وو.

◆ د ام المؤمنین عایشې صدیقې رضي الله عنها نه روایت دی چې ماته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وفات نه لږ مخکې وفرمایل چې ما ته زما ملګری راوغواړه نو ما ورته وویل ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) نو هغه وویل نه، بیا ما ورته وویل عمر (رضي الله عنه) هغه راته وویل نه بیا ما ورته وویل عثمان (رضي الله عنه) نو هغه راته وویل هو نو ما اعثمان (رضي الله عنه) راوغوښتنو کله چې عثمان (رضي الله عنه) راغی نو ما ته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل ته لږه وړاندې لاړه شه زما عثمان (رضي الله عنه) سره پټه خبره ده نو زه ترې لرې کیناستم نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عثمان (رضي الله عنه) ته غوږ کې خبرې وکړې چې د عثمان (رضي الله عنه) شکل ورسره تغیر شو بیا یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته لاس ورکړو لکه چې څوک چا سره قول او وعده کوي.

بیا چې کله د عثمان (رضي الله عنه) د خلافت اخري وخت شو او خوارجو ظهور وکړو او هغوی عثمان (رضي الله عنه) کور کې محاصره کړ نو هغې کې څه ناپوهه مسلمانان هم وو او عثمان (رضي الله عنه) د هغوی سره جنګ کول نه غوښتل او ویل یې چې ما ته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د

---

• شرح اصول عقاید اهل السنه والجماعه للالکایی ج 9 صف 132

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر کولو امر کړی دی نو موږ ته هغه خبره یاده شوه چې عثمان (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره لاس باندې عهد او وعده کړې وه.

◆ د عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) نه روایت دی چې کله خوارجو عثمان (رضي الله عنه) خپل کور کې محاصره کړ نو هغوی د منافقینو او بعضې قوم پرستو مسلمانانو په شمول (۲۰۰) تنه وو؛ نو عثمان (رضي الله عنه) ورته په دیوال سر ورښکاره کړ او ورته یې وویل، تاسو ولې زما وژلو پسې راخیستې ده؟ ما له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه اوریدلي دي چې له درې قسمه خلکو علاوه د هیچا وژل روا نه دي.

**اول:** محصن زناکار چې واده یې وي او بیا هم زنا وکړي، نو رجم کېږي یعنې په تیږو به ویشتل کېږي، چې تر څو مړ شي.

**دویم:** قصاص والا یعنې چې چا په ناحقه قتل کړی وي او ثبوت پرې وشي نو وژل کېږي به.

**دریم:** مرتد چې د اسلام نه بیرته کفر ته ور وګرځي نو وژل یې روا دي.

نو ای خلکو قسم په الله (جل جلاله) چې ما نه په جهالت کې زنا کړې او نه په اسلام کې، قسم په الله (جل جلاله) چې ما هیڅ کله ناحقه قتل هم نه دی کړی او قسم په الله (جل جلاله) چې زما په زړه کې هم د مرتد کیدلو سوچ او فکر ندی پیدا شوی، بیا عثمان (رضي الله عنه) وفرمایل زه په الله (جل جلاله)، رسول الله (صلی الله علیه وسلم)، ملایکو او اخرت ایمان لرم نو بیا ولې زما مرګ درته اسانه ښکاري؟

ابو امامه (رضي الله عنه) فرمايي، چې کله د عثمان (رضي الله عنه) کور باغیانو خوارجو محاصره کړ خوراک، څښاک او هر څه یې ورباندې بند کړل، نو د عثمان (رضي الله عنه) د کور تر څنګ د بلاط په نوم کورونه وو، هغه طرف د باغیانو او خوارجو نه په امن کې وو؛ نو عثمان (رضي الله عنه) د قضايې حاجت لپاره تللی وه او موږ هلته ناست وو نو موږ ته یې تشریف راوړ او ویې وفرمایل چې باغیان او خوارج ماته د قتل ګواښونه راکوي.

ابو امة فرمايې موږ ورته وویل، تا ته الله (جل جلاله) کافي دی هغه به دې مددګار شي نو بیا عثمان (رضي الله عنه) هماغه خبره تکرار کړه چې غیر له ناحقه قاتل، محصن زناکار او مرتد نه د بل مسلمان وژل نه دي روا تر څو چې د کافر صف ته نوي لاړ او هغه یې نوي قوي کړی.

ابو هریره (رضي الله عنه) فرمايي چې کله خوارجو او باغیانو د عثمان (رضي الله عنه) کور محاصره کړو زه عثمان (رضي الله عنه) ته ورغلم او د باغیانو سره د جنګ کولو مشوره مې ترې غوښتله او د دې محاصرې ډیرې ورځې تیرې شوې وې ما فکر وکړ چې عثمان (رضي الله عنه) به ډیر وږی او تږی وي؛ خو چې وموليده بالکل تازه وو، نو عثمان (رضي الله عنه) راته وفرمایل چې ما ته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوب کې راغی او راته یې وویل ته به ډیر تږی شوی یې؟

نو عثمان (رضي الله عنه) فرمايي ما ورته وویل هو!

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وویل، که غواړې چې الله (جل جلاله) په دې خوارجو فتحه درکړي هم الله (جل جلاله) به دې امداد وکړي او که غواړې موږ سره جنت کې روژه ماته کړې نو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خوښه ده نو عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې ما ورته وويل، چې يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) غواړم جنت کې له تاسې سره روژه ماته کړم.

نو ابو هريره (رضي الله عنه) فرمايي، چې عثمان (رضي الله عنه) د خپلې کوټې بام ته اشاره وکړه چې له دې بام نه يوه بوقه چې اوبه پکې وې راښکته شوه او ما ته يې اواز وکړو چې اوبه وڅښه او ما له هغې بوقې اوبه وڅښلې قسم دی چې تر اوسه زما په سينه کې د هغې اوبو يخوالی او خوږوالی په خوله کې محسوسوم.

د عثمان (رضي الله عنه) په ضد دغه بغاوت يو يهودي چې عبد الله بن سبا نوميده شروع کړی وه کله چې عثمان (رضي الله عنه) خليفه شو؛ نو له اولې ورځې دغه يهودي دغه خبرې کولې چې د خلافت حق د علي (رضي الله عنه) دی او علي (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زوم او د تره ځوی دی نو چې کله علي (رضي الله عنه) خبر شو هغه ترې شام ته وتښتيدو او (۲) تنه خوارج علي (رضي الله عنه) قتل کړل دغه يهودي عبد الله ابن سبا شام کې بعضې کمزوري مسلمانان د قوم پرستۍ په شعار وغولول او څه اندازه خوارج او منافقين هم ورسره شول اخر يې دغه شورش او بغاوت ته عملي بڼه ورکړه او مدينې منورې ته راغلل.

د خوارجو اول هدف دا دی چې لمړی هغه مسلمانان له منځه وړي چې په اسلام مضبوط او ټينګ ولاړ وي، د خوارجو شعارونه تل غولوونکي او تير ايستونکي وي چې بې علمه او کمزوري مسلمانان وربانديې ډير ژر غوليږي همدا وجه وه چې، دغه عبد الله ابن سبا يهودي د مکې د فتحې په ورځ عثمان (رضي الله عنه) ته راغلی وو او قسمونه يې ورته خوړلي وو، چې زه مسلمان شوی يم او کله چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته پس له نيولو راوستل شوی وه؛ نو عثمان (رضي الله عنه) رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ويلي وو، چې ما ته يې قسمونه خوړلي چې زه مسلمان يم او عثمان (رضي الله عنه) يې ضمانت هم کړی وه.

خوارج نه يوائې چې دروغجن دي بلکې احسان فراموشه هم دي بيا همدې يهودي، نور خوارج تيار کړل چې د عثمان (رضي الله عنه) د خلافت موضوع مشکوکه کړي او په ضد يې قيام وکړي[•].

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۲۱) برخه:

### عبدالله ابن سبا څوک وو؟

د عبد الله ابن سبا غلطې کارنامې.

د مسلمانانو تر منځ خپل منځي جګړې.

◆ په صحابه کرامو د کفر او ارتداد تاپه لګول خصوصاً په ابوبکر (رضي الله عنه)، عمر (رضي الله عنه)، عثمان (رضي الله عنه) او ام المؤمنين عايشه رضی الله عنها صديقه باندې او په بي بي عايشه (رضي الله عنه) باندې د زنا تهمت سره له دې چې قران کې يې د صفايې آياتونه نازل شوي دي.

---

[•] کنز العمال جلد 1 صفحه 78، مسند امام احمد جلد 4، البدايه والنهايه جلد 7 صفحه 181، اخرج ابن سعد جلد 3 صفحه 46 عن ابی سهله بمعناه اطول من هذا وعند عبد الرزاق والحسن بن سفيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د مسلمانانو تر منځ د کنځلو او بدو ردو ویلو رواج همدې خبیثو شروع کړی دی.
- د لعنت ویلو رواج ابن سبا شروع کړی.
- د شیعه مذهب بنسټگر همدا یهودي دی.
- علي (رضي الله عنه) ته د ربوبیت صفات همده ورکړي او رواج کړي دي.
- د احترام او عزت په نوم د یو مسلمان بل مسلمان ته سجده همدې لعین رواج کړې ده.
- د مسلمانانو د یو بل په وژلو باندې د جنت گټلو دروغجن شعار همدې لعین رواج کړي دي.

عبدالله ابن سبا له اصله یمني وو چې په ابن الاسود مشهور وو او یهودي وو ډیر چالاک او فصیحې ژبې والا وو؛ نو ځکه یهودیانو د مسلمانانو تر منځ د نفاق اچولو لپاره غوره کړ، بعضې اسلامي زده کړې یې ورزده کړې او مدینې منورې ته یې د خپلو موخو او اهدافو د تر لاسه کولو لپاره راولېږلو او ظاهراً یې د اسلام راوړلو اعلان وکړ، د مسلمانانو تر منځ به یې هر وخت د نفاق خبرې خپرولی زیاته موقع هغه وخت په لاس ورغله چې د صحابه کرامو (رضي الله عنه) د اهل حل والعقد شوری د علي (رضي الله عنه) په خوښه عثمان (رضي الله عنه) خلیفه وټاکل شو؛ نو دغه یهودي به خلکو ته ویل چې د خلافت حق د علي (رضي الله عنه) وو؛ خو عثمان (رضي الله عنه) ترینه په زور ځان خلیفه کړ.

دغه یهودي به علي (رضي الله عنه) ته د الوهیت صفتونه ورکول، ده به ویل د علي (رضي الله عنه) چې خوښه نه وي نو نعوذ بالله، الله (جل جلاله) هېڅ نه شي کولای د قرانکریم د لسو سپارو پټولو الزام یې په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې ولگولو.

علي (رضي الله عنه) ته به یې علم غیب ثابتول او علي (رضي الله عنه) په باره کې داسې خبرې کولې چې سراسر دروغ دي، دې یهودي به ویل نبوت لپاره علي (رضي الله عنه) غوره شوی وو؛ خو چې کله جبرایل (ع) راغی نو د علي (رضي الله عنه) په بستره محمد (صلی الله علیه وسلم) پروت وو نو په غلطۍ کې یې وحې نازله کړه.

دغه یهودي عبدالله ابن سبا اول حجاز کې همداسې د علي (رضي الله عنه) د الوهیت خبرې خپرې کړې او د قبایلو نوي مسلمان شوي خلک یې ځان سره ملگري کړل بیا یې د قریشو کمزوري مسلمانان چې لا له اسلامه پوره خبر نه وو د قومیت په اور کې سره راجمع کړل.

کله چې علي (رضي الله عنه) خبر شو نو د نیولو حکم یې وکړو؛ خو دغه چالاکه تري کوفې ته وتښتیدو او نور ملگري یې هم پټ شول فقط (6) شپږ تنه علي (رضي الله عنه) ته په لاس ورغلل له هغوی نه علي (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه چې تاسې زما په باره کې څه عقیده لرئ، هغوی هماغه د الوهیت یعنې ربوبیت صفات بیان کړل نو علي (رضي الله عنه) هغوی اور ته واچول علي (رضي الله عنه) څه وخت بعد کوفې ته لاړو.

الجحفي (رضي الله عنه) فرمايي، چې زه خبر شوم چې علي (رضي الله عنه) دلته راغلی نو زه ورغلم او د جمعې ورځ وه؛ نو ما تري واوریدل چې ویې فرمایل، چې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه بعد بهتر خلک ابوبکر (رضي الله عنه) او عمر (رضي الله عنه) دي له خطبې وروسته ما تري پوښتنه وکړه چې ابن الاسود خو وایي چې ته په دواړو خلیفگانو لعنت وایې؛ نو، علي (رضي الله عنه) وفرمایل نعوذ بالله زه د ابن الاسود خبیث د خبرو نه پناه غواړم بیا یې وفرمایل چې ما ته یې حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ، خو عبد الله ابن سبا له هغې ځايه بصرې ته تښتيدلی وه کله چې هلته ورپسې ورغې، بيا يې بصره کې پټ دعوت چلولو چې لږ ملګري يې پيدا کړل نو هغوی يې هلته پرېښودل بيرته يمن نه لاړو، هلته يې څه موده دغه زهرجنه عقيده خپره کړه او له هغې ځايه شام ته لاړو، شام کې امير معاويه (رضي الله عنه) حاکم وو هغه چې وربانـدې خبر شو د نيولو حکم يې وکړو خو ابن سبا له هغه ځايه په تېښته کامياب شو او مصر ته لاړو مصر د ده د عقيدې خپرولو لپاره مناسب ځای وو ځکه چې هلته د يهودو بيخ او بنياد مضبوط وو، هلته يې ډير دعوت وچلولو چې له هغې ځايه يې يو لښکر د عثمان (رضي الله عنه) د وژلو لپاره جوړ کړ، تر هغې چې لاره کې نور قبايل هم ورسره ملګري شول چې مدينې منورې ته راورسيدل نو تقريباً (۲۰۰۰) جنګيالي ورسره ملګري شول او مدينه منوره کې يې عثمان (رضي الله عنه) په کور کې (۴۰) ورځې کلابند کړی وه•.

✵ ✵ ✵ ✵

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۲) برخه:

**د عثمان (رضي الله عنه) خوارجو باغيانو او دوکه شويو مسلمانانو ته خبرداری.**

د ابوليلی کندی (رضي الله عنه) نه روايت دی چې زه عثمان (رضي الله عنه) ته د خوارجو سره دمقابلې کولو د اجازت غوښتلو لپاره ورغلم نو زه هلته وم چې عثمان (رضي الله عنه) هغوی ته د کړکۍ نه سر ورښکاره کړ او ورته يې وويل، ای خلکو ما مه وژنئ زما قتل تاسو ته نه دی روا قسم په الله (جل جلاله) که زه تاسو ووژلم او بيا د يو بل د وژلو رواج مو جوړ کړ؛ نو له دې وروسته به کله هم په اتفاق نه شئ او نه به يو ځای لمونځ وکړئ او نه به بيا تاسو ته دغسې فتحې نصيب شي او نه به يو اتفاق او اتحاد جهاد وکړئ، بيا يې د دواړو لاسو ګوتې يو بل کې ننباسلې او ويې ويل، تاسو به دغسې د يو بل سره په خپلو منځو کې په جنګ اخته شئ او دښمن به مو ارام ژوند تيروي، تاسو د دنياوي ګټو لپاره يو مسلمان مه وژنئ بيا يې د سورت هود دا ايات تلاوت کړ.

بسم الله الرحمن الرحيم، يَاقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي.الخ

ترجمه: ای قومه زما ضد او عداوت دې تاسو ته د دې نشي چې تاسو باندې داسې مصيبتونه نازل شي لکه د نوح قوم، د هود قوم او صالح قوم. او د لوط د قوم خبر هم لرې نه دی تاسې ته ول ترې خبر ياست، بيا يې عبد الله بن سلام (رضي الله عنه) ته ځوک ولېږلو چې ستا څه خيال دی ما ته څه کول پکار دی، ځکه چې هغه د تورات عالم وو او تورات کې داسې تولې خبرې ليکلې وې نو هغه ورته جواب راولېږلو چې صبر وکړه جنګ کول اختيار نکړې که دوی تا شهيد کړي نو د قيامت په ورځ به تاسره دليل وي او دوی به الله (جل جلاله) راونيسي.

د مغيره ابن شعبه (رضي الله عنه) نه روايت دی چې زه عثمان (رضي الله عنه) ته ورغلم ما ورته وويل، چې زه تا ته درې خبرې مخې ته کوم، ته بايد وربانـدې عمل وکړې.

**اول:** ته بايد په هغه دروازه ووځې چې کومه بانـدې باغيان نشته او ځان مکې مکرمې ته ورسوې دوی به هلته تا هيڅکله و نه وژني او حرم شريف د حرمت خيال به وکړي.

---

• البداية والنهاية باب عثمان، الاستيعاب 4ج باب خلفاءالراشدين:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهــــم:** تــه بايــد شــام تــه لاړ شــې هلتــه اميــر معاويــه (رضــي الله عنــه) دی هغــه ســتا د تــره ځــوی دی او تــا حــاکم مقرر کړی دی او هغه ښه مضبوط دی هغه به تا په امن کړي.

**دريــــــم:** تــه زمــوږ امــام او خليفــه يــې تاســره اکثــر مســلمانان او تکــړه صــحابه کــرام دي لکــه زبيــر بــن عــوام (رضــي الله عنــه)، حســـن ابـــن علـــي (رضـــي الله عنـــه)، عبـــد الله ابـــن عمـــر (رضـــي الله عنـــه) او نـــور (۷۰۰) تنـــه اوس تاســره دلتــه موجــود دي؛ نــو تــه مــوږ تــه د جنــګ کولــو حکــم وکــړه الله (جــل جــلا لــه) د حــق ملګــری دی او حــق بــه بريــالی شــي او دوی خــوارج بــه لــه مــديني وباســو او تــه بــه پــه امــن کــې شــې، پــه الله (جــل جــلا لــه) قســم چــې تــا تــه د دوی ســره جنــګ کــول روا دي نــو مغيــره بــن شــعبة (رضــي الله عنــه) فرمــايې، چــې عثمــان (رضي الله عنه) راته دا سې جواب راکړ.

تــه چــې وايــې، مکــې معظمــې تــه لاړ شــه نــو مــا لــه رســول الله (صــلی الله عليــه وســلم) نــه اوريــدلي چــې هــر چــا مکــه مکرمــه کــې وينــې تــوی کــړې او يــا يــې ســبب شــو نــو د قيامــت پــه ورځ بــه د ټــولې دنيــا د قتلونــو نيمــايې عــذاب وربانــدې وي او زه نــه غــواړم چــې د داســې فتنــې ســبب شــم، ځکــه دغــه باغيــان او خــوارج او د ابــن سبا يهودي پيروان هېڅ دين نلري دوی د نفس او خواهش تابعدار دی.

او دوهــم دا چــې زه شــام تــه اميــر معاويــه تــه ورشــم نــو دا خبــره صــحيح ده چــې زه بــه هلتــه پــه امــن شــم خــو خــوارج بــه هلتــه ضــرور راځــي او خپــل منځــي جګــړې بــه شــروع کېــږي او زمــا پــه ســبب بــه د مســلمانانو بېځايــه وينــې تــوی شــي او ګنــاه بــه بيــا هــم زمــا پــه غــاړه وي بلــه دا چــې زه دا نــه خوښــوم چــې د خپــل حبيــب رســول (صــلی الله عليــه وســلم) نــه او د هجــرت د مقــام نــه لــرې و اوســيږم، زه مــرګ خوښــوم خــو د خپــل حبيــب (صلی الله عليه وسلم) نه لرې نه.

دريــم دا چــې زه تاســو تــه د جنــګ کولــو امــر درکــړم نــو دي يهــودو او خوارجــو ســره هغــه کســان ملګــري دي چــې کليمــه وايــي ؛ خــو غوليــدلي دي زمــا د مرتــد کيــدلو دروغجــن شــعار ورتــه ويــل شــوي دي د اهــل بيتــو د دروغجنــې مينــې خبــرو دوکــه کــړي ماتــه دغــه خلکــو کې مســلمان او کــافر نــه معلــوميږي نــو ځکــه زه نشــم کولای چې د دوی په سبب يو ه کليمه ويونکی مړ کړم.

د ابــو هريــره (رضـــي الله عنـــه) نـــه روايـــت دی چـــې زه د عثمـــان (رضـــي الله عنـــه) د محاصـــرې پـــه وخـــت کـــې عثمـــان (رضـــي الله عنـــه) تـــه ورغلـــم مـــا ورتـــه وويـــل، باغيـــان او خـــوارج ســـتا دروازه کـــې ولاړ دي پـــه الله (جـــل جـــلا لـــه) قســـم چـــې دوی ســـره جنـــګ کـــول روا دي تـــه مـــوږ تـــه امـــر وکـــړه چـــې ورســـره وجنګيـــږو ؛ نـــو عثمـــان (رضـــي الله عنـــه) راتـــه وويـــل ايـــا تـــه غـــواړې چـــې مـــا د خپـــل منځـــي جګـــړو لپـــاره ســـبب وګرځـــوې، قســـم پـــه الله (جـــل جـــلا لـــه) چـــې مـــا د رســـول الله (صـــلی الله عليـــه وســـلم) نـــه اوريـــدلي ، چـــې ويـــې فرمايـــل ځـــوک چـــې د خپـــل منځي جګړو سبب شو د قيامت په ورځ به د ټولو وژل شوو ګناه کې شريک وي.

ابـــو هريره (رضـــي الله عنـــه) فرمـــايې چـــې د عثمـــان (رضـــي الله عنـــه) د دې خبـــرو وروســـته زه کـــور تـــه لاړم قـــرار کور کې کيناستم بيا مې د هيڅا ملګرتيا ونکړه[○].

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

[○] البداية والنهاية جلد 7 صفحه 210، حکاية الصحابة فصل خلفاء الراشدين ج اول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عثمان رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۳) برخه:

**د محاصرې جاري والی او د صحابه کرامو رضي الله عنهم رایې.**

➡ د عبدالله ابن زبیر (رضي الله عنه) نه روایت دی چې زه د عثمان (رضي الله عنه) سره د ده په کور کې وم نو ما عثمان (رضي الله عنه) ته وویل، چې تا سره دلته څه تکړه ځوانان شته چې که د خوارجو او ناپوهانو مقابلې ته ووځي نو الله (جل جلا له) به یې ضرور کامیابوي ځکه چې ته په حقه یې ته موږ ته اجازه وکړه چې جنګ ورسره وکړو نو عثمان (رضي الله عنه) راته وفرمایل زه تا ته په الله (جل جلا له) قسم درکوم چې داسې ونکړې او ما د خپل منځي جګړو سبب و نه ګرځوې زه نه غواړم چې یو داسې طریقه رامنځته کړم چې په هغې کې د کوم مسلمان وینه توی شي.

➡ بل روایت کې دي چې عبدالله بن زبیر (رضي الله عنه) ورته وفرمایل امیر المؤمنینه قسم دی چې تا ته اوس د دې باغیانو وژل روا دي نو عثمان (رضي الله عنه) وویل نه نه داسې نکوم دوی سره دوکه شوی او کمزوري مسلمانان دي زه هغه نشم پیژندلای نو ولی یې وینه توی کړم.

➡ د عبدالله ابن عامر (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې ما له عثمان (رضي الله عنه) واوریدل چې ویې فرمایل زما په نزد غوره هغه څوک دی چې خپله توره د خپل منځي جګړو نه راحصاره کړي او څوک و نه وژني.

➡ ابن سیرین (رح) فرمایي چې زید ابن ثابت (رضي الله عنه) عثمان رضی الله عنه ته راغی او ورته یې وفرمایل چې د انصارو صحابه کرامو رضی الله عنهم د ځوانانو یو ټولی دروازه کې ولاړ دي که ته اجازه ورکړې نو ستا په دفاع کې به وجنګیږي او دغه خبره یې څو واره تکرار کړه او ورته یې وویل، تا سره دلته هم عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه)، عبدالله بن زبیر (رضي الله عنه) او حسن بن علي (رضي الله عنه) شته او (700) کسان لری امر وکړه چې خوارجو او باغیانو سره وجنګیږي؛ خو عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل، نه زه دا کار نشم کولای زه د مسلمانانو وژنه نشم کولای.

➡ عبدالله بن ساعده (رضي الله عنه) نه روایت دی سعید ابن عاص رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه ته راغی چې دغه باغیان دروازه کې موجود دي موږ په تیرو ولي، نیزې راته پرقوي، ډېر صحابه یې زخمیان کړل او ته اجازه نه ورکوې چې ورسره وجنګیږي، نو عثمان (رضي الله عنه) ورته وویل زه پوهېږم که جنګ شروع کړم، الله (جل جلا له) به ما ته فتحه راکړي؛ خو زه نه غواړم مسلمانان خپل منځي جګړو کې ښکیل شي.

کله چې سعید ابن عاص (رضي الله عنه) دغه خبره واوریدله نو ویې ویل قسم په الله (جل جلا له) چې بیا زه لتا نه مشوره و نه غواړم بهر ووتو او په خوارجو یې حمله وکړه ډېر یې مړه کړل اخر یې سر په تورو ولړیدو او شهید شو.

➡ عمر ابن سعد (رضي الله عنه) د خپل پلار نه روایت کوو چې زما ورور عامر ابن سعد (رضي الله عنه) ورته راغی او ورته یې وویل، پلار جانه خلک جنګ ته تیار دي عثمان (رضي الله عنه) محاصره دی او ته قرار کور کې ناست یې، ته زموږ په شان توره وهوونکي ځامن لرې او خپله هم یو تکړه پهلوان یې ولې نه وځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سعد (رضي الله عنه) وويل، بچيه زه لتا نه ښه پوهېږم ايا ته غواړې چې ما خپل منځي جګړې ته ورداخل کړې زه پوهېږم چې د خوارجو او يهودو وژل روا دي؛ خو نا پوهه مسلمان قوم پرستان هم ورسره دي زه به مسلمان له کافره څنګه جلا کوم بيا يې ورته وفرمايل، زويه قسم په الله (جل جلا له) زه به تر هغې و نه جنګېږم چې تر څو مې داسې توره لاس ته نه وي راغلې چې دوه سترګې ولري، ژبه ولري او دوه شونډې ولري، چې زه يې په کافر، يهودي او يا خوارج پورته کړم نو ويې پېژني او راته ووايي وهه يې کافر دی، يهودي دی او خوارج دی او زه شړق تري تير کړم او سر تري غوڅ کړم او توره کار پرې وکړي او که په مسلمان يې پورته کړم نو توره يې وپيژني چې مسلمان دی او راته ووايي مه يې وهه چې مړ يې نکړې مسلمان دی، بيا سعد وفرمايل چې ما له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) نه اوريدلي چې دغسې د فتنې په وخت هغه څوک بهتر دی چې کور کې کيني او شخصي او خپل منځي جګړې ونکړي[1].

✵ ✵ ✵ ✵ ✵

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۲۴) برخه:

**عثمان (رضي الله عنه) ولې له خلافته استعفا نه ورکوله؟**

**د عثمان (رضي الله عنه) فضيلت.**

**د عثمان (رضي الله عنه) شهادت.**

☚ د طلحه بن عبيد الله (رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل، د هر چا يو نزدی ملګری وي، زما د جنت ملګری عثمان (رضي الله عنه) دی.

☚ د حسنينو (رضی الله عنهم) او عبد الله بن زبير (رضي الله عنه) نه روايت دی چې مونږ د عثمان (رضي الله عنه) سره د ده په کور کې وو؛ نو چې کله اخري ورځې شوې مونږ ورته وويل چې اجازت راکړه چې مونږ د خوارجو سره وجنګيږو نو عثمان (رضي الله عنه) راته وفرمايل که تاسو نه خفه کېږئ خپلو کورو ته لاړ شئ بيا يې دروازه راته خلاصه کړه او مونږ خپلو کورونو ته لاړو.

☚ حسن (رضي الله عنه) فرمايي، چې ما خپل والد علي (رضي الله عنه) ته وويل، چې عثمان (رضي الله عنه) محاصره دی او ته قرار ناست يې نو هغه راته وويل، چې زه پوهېږم عثمان (رضي الله عنه) جنګ او وينه تويول نه غواړي نو ځکه کور کې ناست يم.

د عثمان (رضي الله عنه) نه چې کومو خلکو د خلافت پرېښودو غوښتنه کوله اکثره خوارج او يهود وو او ډير لږ نا پوهه قوم پرست مسلمانان ورسره وو کوم جليل القدر صحابي تري غوښتنه نوه کړې، بل دا چې عايشه (رضي الله عنه) فرمايي چې ما عثمان (رضي الله عنه) ته وويل ته دغه خوارجو سره جنګ ولی نه کوې؟ نو هغه راته وويل چې ستا په کور کې چې ما سره رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پټې خبرې وکړې او بيا يې عهد او قول را څخه واخيست نو هغه همدا خبرې وې ما ته رسول الله

---

[1] اخرج البدايه والنهاية، جلد 7 صفحه 282، واخرج ابونعيم فی الحلية جلد 1 صفحه 94، وايضاً راوه طبرانی مثل ذلک، والهيثمی جلد 7 صفحه 299، وعن ابن سيرين مثله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(صلى الله عليه وسلم) وفرمايل چې تا ته به خلک يو کميس درواغوندي پام کوه چې ببرته يې تر مرګه لرې نکړې، نو هغه کميس همدا خلافت دی.

بل دا چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ما ته د صبر کولو ويلي وو او د خوارجو سره په دې خاطر د جنګ نه منع کړې يم چې ناپوهه مسلمانان ورسره ملګري دي نو ما ته د داسې خلکو وژل ناروا دي چې کلمه وايي ځکه چې د جنګ په وخت خوارج او مسلمان پيژندل مشکل دي.

☚ د ذالحجې مبارکه مياشت وه او زياتره صحابه کرام حج ته لاړل، هغوی فکر کاوه چې د عثمان (رضي الله عنه) محاصره به نوره هم اوږده شي؛ نو ځکه حج ته لاړل دلته مدينه منوره کې عبد الله ابن سبا د ملګرو سره د عثمان (رضي الله عنه) د کور دروازه وسوځوله او د سهار د لمونځ نه بعد عثمان (رضي الله عنه) د قران کريم تلاوت کولو چې يهودي خوارج د عثمان (رضي الله عنه) کور ته دننه شول او په عثمان (رضي الله عنه) اول ګزار ابن سبا يهودي وکړو چې وينه مبارکه يې د قران کريم په دې آيات مبارک ور تويه شوه،

{فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللهُ وَهُوَالسَّمِيْعُ الْعَلِيْم }

ترجمه:: زر دی چې چې الله به ستا لپاره کافي شي د دوی نه او الله اوريدونکی او پوهه دی.

يهودي خوارجو عثمان (رضي الله عنه) شهيد کړ او نورو مسلمانانو ته يې د فتنې دروازه خلاصه کړه د شيعه ګانو د عقيدې موسس عبداله ابن سبا د عثمان (رضي الله عنه) په شهيد کولو د يوې داسې عقيدې دروازه پرانيسته چې تر قيامته به مسلمانانو ته د دوی اضرار له يهودو او نصاراوو زيات وي، څومره مشکلات چې شيعه ګانو د اسلام په تاريخ اهل بيتو ته پيدا کړي هيڅ له دې زيات به بلګه يې بله نشتته.

☚ خوارجو عثمان (رضي الله عنه) شهيد کړ خو د عثمان (رضي الله عنه) اخلاق، حيا، سخاوت، بهادري او فتوحات ژوندي دي، د عثمان (رضي الله عنه) د قران کريم ترتيب او جمع کولو خدمات تر قيامته ژوندي دي.[2]

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عثمان رضي الله عنه د سيرت (۲۵) او اخري برخه:

**د عثمان (رضي الله عنه) د خلافت دوران کې د مختلفو ملکونو فتحه کيدل.**

**د افغانستان فتحه:**

عثمان (رضي الله عنه) حذيفه ابن يمان د عبد الله بن عامر (رضي الله عنه) تر قوماندې لاندې اذربايجان ته ولېږلو له فتحې څخه څه وخت بعد حذيفه ابن يمان (رضي الله عنه) ارمنيا ته مخه کړه هغه هلته په جګړه بوخت شو د اذربايجان خلکو بيا شورش وکړو؛ نو حذيفه ابن يمان (رضي الله عنه) وليد بن عقبه (رضي الله عنه) هلته ولېږلو او د اذربايجان د خلکو شورش يې ناکام کړ له هغې ځايه بيرته د مدينې منورې په طرف روان شو لاره کې ورته د امير المؤمنين عثمان (رضي الله عنه) ليک ور ورسيدو، چې شام ته د امير معاويه (رضي الله عنه) د کومک لپاره مجاهدين ولېږې ځکه چې

---

[2] مسند امام احمد باب فضايل عثمانؓ، الاستيعاب ج 2 ، حلية الاولياء 4 باب العشرة مبشرة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شام د عمر (رضي الله عنه) په وخت کې فتحه شوی وو؛ خو د عبدالله ابن سبا خوارجو وخت په وخت شورشونه کول نو ولید بن عقبة (رضي الله عنه) د شام طرف ته (8000) اته زره مجاهدین ولېږل، چې هغوی د خوارجو هغه شورش او بغاوت ختم کړ.

بل خوا عبدالله بن عامر (رضي الله عنه) چې د عراق د بصرې والي وو له هغې ځایه اخنف بن قیس (رضي الله عنه) د خراسان طرفته راولېږلو ځکه عبدالله بن عامر (رضي الله عنه) د عمر (رضي الله عنه) د خلافت په وخت کې د خراسان لرې برخې نیولی وې چې بیرته یې له لاسه وتلی وې، نو اخنف بن قیس ترکستان، ایران او نور ځایونه فتحه کړل او قندهار ته یې عاصم ابن عاصم التمیمي (رضي الله عنه) راولېږلو چې د قندهار خلکو ورسره شدید مقاومت وکړ، ډېر تلفات یې ورواړول خو اخر د عاصم (رضي الله عنه) لښکر قندهار فتحه کړ.

بیا پخپله خراسان ته راغی او د جنګ قومانده یې اخنف بن قیس (رضي الله عنه) ته ورکړه هغه د اوسني افغانستان زیاتره برخې ونیولې لکه کابل، غزني او زابل خو څه وخت وروسته دغه خلکو بغاوت وکړ او دا ځایونه د مسلمانانو له لاسه ووتل، له بل خوا عبدالله بن عامر التمیمي (رضي الله عنه) پخپله جوزجان، تالقان او فاریاب ونیول دغه جګړه کې دیرش زره (30000) مجاهدینو برخه اخیستې وه.

ربیع بن زیاد الحارثي (رضي الله عنه) هم عبدالله بن عامر (رضي الله عنه) قوماندان وو زرنج او ورسره علاقې یې فتحه کړې او عبدالرحمن بن سمرة (رضي الله عنه) یې کابل طرفته راولېږلو؛ خو د کابل خلکو د مسلمانانو پر وړاندې ډېر شدید مقاومت وکړ او د عبدالرحمن بن سمرة (رضي الله عنه) مجاهدین یې ښار ته د ننوتلو څخه منع کړل؛ خو مسلمانانو د کابل ښار تر ډېره وخته محاصره کړی وساتلو اخر د کابل او سیدونکي تنګ شول او مجاهدین یې کابل ته پرېښودل په داسې حال کې چې د مجاهدینو منجنیقونو د کابل زیاته برخه ویجاړه کړې وه.

عبدالله بن عامر التمیمي (رضي الله عنه) بیرته بصرې ته لاړو او اقرع بن حابس (رضي الله عنه) یې دلته امیر وټاکلو اقرع ابن حابس (رضي الله عنه) جوزجان ته لاړو چې جوزجانیانو بیا بغاوت کړی وو هغه هلته مصروف شو دلته کابل، غزني او زابل کې بیا بغاوت وشو چې د اوسني افغانستان زیاتره برخې بیا د مسلمانانو له لاسه ووتلې او هر ځای مقاومتونه شروع شول بل طرفته هغه مجاهدین چې د قبرص د فتحې لپاره تللي وو له سخت مقاومت سره مخ شوي وو، هلته امیر معاویه (رضي الله عنه) د عثمان (رضي الله عنه) په امر یو بحري فوځ جوړ کړ چې په اسلام کې اولنی سمندري فوځ وو او عبدالله ابن قیس (رضي الله عنه) چې د سمندرونو ماهر وو د امیر معاویه (رضي الله عنه) لخوا مشر وټاکل شو او عبدالله ابن عامر التمیمي (رضي الله عنه) سپه سالار کړو هغه پنځه سوه جنګي بیړۍ تیارې کړې او په سمندر کې یې د قبرص په طرف روانې کړې، دې غزا ته ذات السواري وایې ځکه چې دغه ټولې کشتۍ له خلکو ډکې وې نو چې کله د سمندر منځ ته ورسیدل نو هلته د روم عسکرو هم د دوی مخنیوي ته اته سوه بیړۍ راستولی وې او دوی یو بل سره مخامخ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو وربانـدې غشـي ویشـتل شـروع کـړل؛ خـو غشـي هغـوی تـه ونـه رسـیدل نـو عبـد الله ابـن قـیس (رضـي الله عنـه) مجاهـدینو تـه امـر وکـړ، چـې د الله پـه توکـل خپلـې کشـتۍ بالکـل د روم د فـوځ کشـتیو تـه ورسوئ، چې لاس په لاس جنګ ورسره وکړو.

همغـه وو چـې مسـلمان فـوځ خپلـې کشـتۍ د هغـوې لـه کشـتیو سـره نـزدې کـړې او پـه یـو بـل یـې د غشـو ویشتل شروع کړل.

چـې اخـر کـې د روم فـوځ هغـه کشـتۍ چـې د مسـلمانانو کشـتیو سـره یـې تړلـې نـوې وتښـتولې او پـاتې کشتۍ مجاهدینو غنیمت کړې او له سمندره تیر شول او قبرص یې فتحه کړ.

د قبـرص د فتحـې وروسـته د مجاهـدینو مخـه د ایـران مجوسـیانو طرفتـه شـوه او سـلیمان البـاهلي (رضـي الله عنـه) د ایـران لپـاره سـپه سـالار غـوره شـو چـې لـږ وخـت کـې یـې ایـران مکمـل فتحـه کـړ بـل طرفتـه افریقـایې هیوادونـه لکـه تـونس و غیـره هـم فتحـه شـول؛ خـو عبـد الله ابـن عـامر (رضـي الله عنـه) تـر ټولـو زیـات د عثمـان (رضـي الله عنـه) شـهادت او د خراسـان د ټـولې خـاورې لـه لاسـه وتلـو زیـات پریشـانه کـړی وو، نـو فیصـله یـې وکـړه چـې اول بـه ترکیـه فتحـه کـړي او بیـا بـه د افغانسـتان شـمال طـرف ګاونـډې هیوادونـو او بیـا بـه لـه هغـه ځایـه د ټولـو ملکونـو مشـترکه فـوځ جـوړ کـړي ځکـه چـې د افغانسـتان مختلفـې برخـې ځـو ځـو ځلـه فتحـه شـوې؛ خـو مسـلمانانو ونشـو سـاتلای، دا ځکـه چـې د افغانسـتان خلـک ډیـر بهادر او میړني وو.

لـه بلـې خـوا چـې د اسـیا زړه ورتـه ویـل کېـږي هـم اسـانه کـار نـه وو، ځکـه چـې لـه سـمندره لـرې غرنـی هیـواد دی، لـوی دښـتې او صـحراګانې لـري لـوړې ژورې لـري، لـه دوی غیـر بـل ځـوک دغـه هیـواد نـه شـي سـاتلی او د اسـیا د ټولـو هیوادونـو فتحـې هـم لـه دې هیـواده ناشـونې وې، نـو مسـلمانانو اول شـمالي ګاونـډي ملکونه فتحه کړل او بیا یې د افغانستان د نیولو او فتحه کولو پروګرام جوړ کړ.

خـو د افغانسـتان خلـک هـم نـاخبره نـه وو او د مسـلمانانو بـې سـاري فتوحـاتو ورخطـا کړي وو او ځـو ځلـه پـه افغانسـتان حملـې او دواړو طرفونـو تـه تلفـاتو یـې هـم ذهـن کـې وو نـو قـومي مشـرانو د خپلـو عنانـاتو مطـابق یـوه لویـه جرګـه راوغوښـته او مشـوره یـې وکـړه چـې یـو قـوي وفـد مسـلمانانو تـه ورولیـږي، چـې هغـوی سـره خبـرې وکـړي او د یـو داسـې جنـګ چـې هـیڅ سـرحد نلـري، نـو لـه پوهـه کسـانو یـې یـې وفـد چـې د روایـاتو مطـابق پنځـه کسـان وو، عبـد الله عامر (رضـي الله عنـه) اخنـف بـن قـیس (رضـي الله عنـه) او سلیمان الحارثي (رضي الله عنه) ته ورولیږي.

عبـد الله بـن عـامر (رضـي الله عنـه) چـې یـو تکـړه، پـوه او عـالم شخصـیت وو دغـه وفـد سـره ډیـره نرمـه لهجـه، ښـه اخـلاق او نبـوي اصـولو بانـدې برابـره معاملـه وکـړه، دوی یـې د مجوسـي او زردشـتي دیـن نـه اسـلام تـه راوبلـل او توحیـد یـې ورتـه وړانـدې کـړو، چـې د دغـه وفـد ټـول مشـران پـه خپلـه خوښـه قـانع شـول چـې دغـه د اسـلام دیـن بـر حـق دی، دوی د دیـن د زده کـړې لپـاره ځـو ورځـې تیـرې کـړې او بیرتـه واپـس راستانه شول.

او بیـا یـې د ټـول افغانسـتان نـه مشـران راجمـع کـړل او د مسـلمانانو د دیـن خـوبې او ښـېګڼې یـې ورتـه بیـان کـړې د هغـوی اخـلاق او اعمـالو پـه بـاره کـې یـې ورتـه معلومـات ورکـړل؛ خـو دې مشـرانو یـو ځـل بیـاترې وغوښـتل چـې تاسـې بیـا لاړ شـئ او ورتـه ووایـې چـې مـوږ تـه ځـو عالمـان راولېـږئ چـې هغـوی دغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبـي ليـدلى وي تـر څـو چـې زمـونږ يقـين پـوخ شـي هغـوى دوهـم ځـل مسـلمانانو تـه ورغلـل او هغـوى يـو څـو صـحابه كـرام ورسـره راولېـږل چـې د هغـوى د څـو ورځـو دعـوت پـه بركـت د افغانسـتان ټـول وګـړي چـې چـا پـه زور نـه شـو مسـلمان كـولاى پـه خپلـه خوښـه مسـلمانان شـول لـه دې وروسـته عبـد الله بـن عـامر (رضـي الله عنـه) پـه خپلـه خوښـه افغانسـتان تـه راغـى او د دغـه ځـاى د خلكـو ايمانـداري، بهـادري، غيـرت او ميلمـه پـالنې زيـات خوشـحال كـړ او لـه دې ځايـه بيرتـه تـګ يـې خـوښ نـه شـو، تـر دې چـې د يـو روايـت مطـابق جوزجان كې وفات او همدلته خاورو ته وسپارل شو.

پـه همـدې طريقـه هغـه افغانسـتان چـې پـه زرګونـو فـوځ او عسـكرو چـا تسـليم نكـړاى شـو پـه خپلـه خوښـه يې اسلام قبول كړ.

چـې د ډيـرو هغـه صـحابه كرامـو وړاندوينـه رښـتيا شـوه چـې د افغانسـتان خلـك پـه اسـانه نـه شـي مسلمانيدلاى خو كه يو ځل مسلمانان شول تر قيامته به يې څوكم له دين و نه ګرځوي• !

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

• مأخوذ من موسوعة فتح دولة افغانستان الاسلامية، البداية والنهاية، مسند امام احمد:

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**